# د ستر څښتن په سپېڅلي نامه

## کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | :: بدلون |
| د شاعر نوم | :: عزیز احمد عزیز |
| د شاعر د پلار نوم | :: اروانښاد پیدا جان |
| تعلیم | :: شپاړسم (ایم اې سیاسیات) |
| د زېږون نېټه | :: ۱۲-۱۲-۱۹۸۹ |
| د زېږون ځای | :: بازار کلا سیف الله / سویلي پښتونخوا |
| ګرځنده شمېره | :: ۰۳۲۱۸۰۷۰۰۶۷ |
| کمپوز کوونکی | :: مُحِب الله ښېراز |
| خپرندویه ټولنه | :: پښتو ادبي ټولنه کلا سیف الله |
| د چاپ شمېر | :: (۱۱۰۰) |
| بیه | :: ۱۵۰ کالداري |
| د موندلو درک | :: دوتر پښتو ادبي ټولنه کلا سیف الله |

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه

ډېران اونږدې دوست مُحِب الله بنېراز د زړه له تله مننه کوم ،چې زما شعري ټولګه یې ټکي په ټکي ولوسته  او په ډېره زښته مینه یې راته کمپوز کړه  ورسره یې یوه په زړه پورې ،هر اړخیزه لیکنه باندې ولیکله.

له دې پرته د محترم استاد شېر زمان زیارمل صاحب، محترم لیکوال ترقي پسند انسان حمید خان او ورسره د ملګري ظریف صباډېرزیات مننددوی یم چې زما پر شعرونو یې خپلې علمي سپریزې ولیکلې او ورسره د کلیم الله کلیم صاحب ډېر مننددوی یم چې د چاپ په چارو کې یې راسره ډېرې سترې ګاللې دي.

**عزیز احمد عزیز**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټرون........................

د هغه نازنين او شيرين جانان په نامه........
چا چي د ټنکيو هيلو، نازکواحساساتو
او ورېښمين خيالونو له لاري راسره ملګرتيا کړې ده او زما
د ژوند بهير يې په مينه تل ژوندی ساتلی دی..............

عزيز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

د رجعتي معروض او ردِانقلاب توري سیلۍ په نړۍ کې په عمومي او زموږ په سیمه کې په ځانګړې توګه له ډیري اوږدې مودې راچلېدلې دي.دې توري سیلۍ ډېر روڼ فکرونه او ځلاند ستوري د خپلې ناولې لمن په څُپ کې کرغېړن او پټ کړل ، داسي چپه باد و چلېده چې ټول تاریخي او ټولنیز قدرونه یې سر چپه ودرول د بدلون،انقلاب او نظریاتو ناره ښکنځل و ګرځېده غیبت، تربورګلوي، ځان خوښي ، شخصیت پر ستي او خود غرضي لوړ ټولنیز قدرونه و منل شول. سپېڅلې هیلې طبعي آرزوګاني او د ټولنیزي خپلواکۍ مبارزه ګناه و ګڼل شوه. زموږ د روایتي میني، وروروليۍ ، خواخوږۍ او د لوړ ثقافت ښکلې څېره بدګمانۍ ، کرکي او دټیټې سویې پرېدي رسمونو او نااشنا خیالونو رابدرنګه کړه،په سازماني دندو کي د نظریاتي تړون ، وفادارۍ ، پت او وقف کېدو ځای پانګي ،چاپلوسۍ،ځان ځانۍ او شخصي ګټو و نیوه.

د لیک هنر،ادب او آرټ زوال و موند.د موسیقۍ په مرۍ پښه کښېښوله شوه د ټي وي او راډیو د سرکاري ډرامو پرته هنري ډرامې له لر او بر پښتونخوا څخه یو مخ کډه وکړه د copy to paste اصطلاح او عمل د ټولو علمي، تحقیقي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخلیقي ځانګوتاداو و اېست. یوې خوا ته باسیواده ځوانان د سپینو خولو، سرو شونډو، تورو زلفواو د سرو اننګو په ستایلو مست دي بلې خوا ته بیا د ناهیلۍ او ورکي لاري لارویان په داسي کړو وړو، خیالونواو جاموتېر اېستل شوي دی چې د چاپېریال له بدمرغیو او د وخت له غوښتنو څخه کاڼه او ړانده په یو بل جهان کې ورک دي.

په داسي حال کې ملګري عزیزاحمد عزیز د شعر هنر د خپلي ټولني دځېړني، د ځوانانو د راویښولو، دروڼ صباوؤن د بدلون د پاره د وروستي طبقاتي جنګ د نغارې په توګه په کار راوړي. ملګری عزیز زموږ د مراعات یافته خواصواو د بې برخي خاوري سروګړو انځور په هنرمندانه ډول په لاندیني ښکلي او پاخه شعر کې داسي څرګوي:

څوک انتظار کې د خیام ځنګېږي
څوک بیا په هیله د کوثر ویده دی

د پښتو ژبي او ادبیاتو د یوه زدکونکي په حیث زما د اومړي ادراک او استنتاج یوه ناچاره رایه ده چې د پښتو ژبي د اولسي ادب د منظومي برخي پلو د مذاحمتي ،رزمیه ، پرمخ تللي او د پراخ فکر له ملغلرو څخه ډک دی. البته د ېواني یا مشترک ادب د کلاسیکي شاعرانو راپه د ښخوا تر ډېره حده منظومه برخه د ذکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو ومطالبو پرځنګ د ټولني د غوښتنو او اړتیاوؤ پر ځای نابلدو خیالونو، تشو روحاني کیسو، بې ځایه اخلاقي لارښونو پړسولې ده. له هم دې علته پښتانه ځوانان او پېغلې، سپینږیري او مېښدي د ټپې ، کاکړۍ غاړو او داسي نورو له خوږلت ځخه خپلي خبري او ویناوي شیرینوي او زړونوته ژوري لاري پیدا کوي . نه یوائې په ماقبل منطقي مجلسونو کې بلکې په ټولو جدي بحثونو کې هم په مدلل ډول د وروستي تکان په توګه کارېږي. د پښتو ژبي دیواني اړخ منظومه برخه بیا په خپل وار ځینو سرتېرو شاعرانود خپل زړه په وینو خړوبه کړې او په سرو ګلونو یې پسوللې ده.هم دا د جرات خاوندانو ویاړمنو شاعرانو د شنو اوسرو لمبو د شغلو د ستایلوپر ځای په بل شوي اور کې د سوځېدلو خلګو چیغي او کوکي د شعر په بڼه اولس ته رسولې دي.د ځپلي اولس پرهرونه یې ورګنډلي بې وزلي یې په توان ور اړولې او ظالم په مخ کې یې پیاوړی اولس درولی دی . د استبداد خاوندان د هغوی بادار استعمار او تالي ځټ نوکران یې اولس ته په ګوته کړي او بیا یې لڅ کړي او کلک یې غندلي دي ځوان ملګری عزیز هم په دا قطار کي ولاړ دی . ملګري عزیز د خپل شعر په غشي د پښتني ټولني د مسخ شوي قبیلوي جوړښت کرغېړني څېرې د خان او رجعت ناولي استثماري څلي نخښه کوي.د لویو لویو بادرانو د نظام په خلاف استثمار شوي خلګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټولوي ځپلی اولس راپاروي د جابرانو فرسوده نظام راړنګول غواړي او په ځای یې د خوارانو د ټولنیز عدل نظام درول غواړي د خوارو بې وزلو خلکو په څنګ کې درېدل او د بادارانو له حکمه د سرغړوني په لذت او جرم ښه خبر دی ځکه خو وایي:

د مرګ په غېږ راته بله زندګي راکوي
ما د اورونو بیابي خوشحالي راکوي

ځوان شاعر د جنسي توپیر په اساس د مېرمنو کردار او د هغوی وجود یوائې د نارینه د رومانوي تسکین تر حده د رالنډولو کلک مخالف دی بیا د یوه داسي قام او اولس مېرمني چې په تاریخ کې د خپلواکۍ د مبارزې په لارکې سرونه شندلي او ویاړ یې په برخه شوی دی. او هم نن د مبارزې په ډګر کې د مېرمنو و فعالي برخي اخیستلو ته خوشبین دی . د پښتني پیغلو او مېرمنو رښتني ښکلا د هغوی په سنګار کې نه بلکې د هغو په فکري پوخوالي او مېړانه کښې ویني د بیلګې په توګه:

پیغلي یې خیژي و سنګر ته دسیالۍ دپاره
هسي نادان یم په دې سترګو کې کجل لټوم

د پښتانه اولس په ټولنه د تپل شوي ناورین او د سرونو په لو اندېښمن دی په خونړي لوبه کې ښکېل کردارونه یې په مځکه راسربېره کړي دي د پربدیو نوکران یې تر کلکي نیوکي لاندي

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي دي د خانانو له پلوه قام او اولس ته د ګټې او ترقۍ نه راوړلو په نسبت او پر تله د اولس په ژغورلو کې ناکامۍ او په اولس د پرېدیو د ناتار د نه مخنیوي په اړه قهرېدلی دی په یوه قام کې د واکمنو او خوارو خلکو د ګټو او ژوندون تر منځ ژور تضاد ویني په خپل شعرکي داسي راوړي:

خانانو مځکه او اسمان دي سره څومره لیري
زموږ او ستاسو تر میان دومره فاصله پرته ده
او نور نو د بې هنره او تر ځان محدوده واکمنو پر ځای خوار اولس ته اولسي اتل لټوي د بیلګې په توګه:

په دغه کلي کې واکمن دي بې هنره خلک
نور دې اولس صنوبر غوندي اتل لټوم
د عزیز احمد عزیز د غزلو تحلیل که د شکل او مضمون د مقولې په اوزار و کړل شي نو په لنډه توګه دې پایلې ته رسېږوچې د ځوان شاعر لومړۍ شعري مجموعه د پښتو ژبې په مذاحمتي او مترقي ادب کې یوه ښکلې اضافه ده .شعرونه یې په تیکنیکي لحاظ په بشپړه ډول موزون او ارکان یې د پښتو شاعرۍ په عروضو برابر دي ، د شعر انداز یې ښکلی سندریز،ایجازي ، اسانه او عام فهمه دی ځیني غزلي یې ډیري په زړه پوري او په

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینو غزلو کې د خورا لوړي سوییې پاخه شعرونه لري .چي زړه راکښونکی سکښت او مدعا لري.

د ځوان شاعر لومړی شعري مجموعه بدلون د مطالبو او موضوګانو په حواله څه محدودیت هم لري تاریخي مهمي پیښي،تاریخ جوړونکي انقلابي شخصیات،غورځنګونه او رزمونه د یادولو اړتیا لري .ناوړه رسمونه عمومي مغالطې او داسي د نوې نړی نوي مضامین څېړل غواړي ځوان شاعر د خپل فکري یون په ډګر کې په انتقالي دوره کې قرار لري ځیني وخت روانه ګډوډي او خونړی وضع د غریب اولس د انقلاب د درسګاه په توګه تعریفوي په لاندیني شعرکې یې ګورو:

و دې غریب اولس ته لار د انقلاب ور ښایي
دا قهرېدلی په غضب اخته اسمان مي خوښ دی

او بیا ځیني وخت دواکمنو په دې استبدادي او د ظلم په نظام کې د امن خوب او د سولې بیرغوونه ویني ، د مثال په توګه یې لاندینی بېلګه:

دلته به د امن جنډی جګي شي
وخت راسره داسي زمزمه وکړه

په ځوان شاعر کي داسي څرک وینم چې دی به په راتلونکي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل شعري هنر ته د موضوګانو په هکله نوره ښکلا ،جدت او پراخوالی ور وه بخښي.

په مجموعوکې ,,بدلون،، یو ښکلی زیار په تیاره کې یوه بله سپرغۍ د واکمنو د جبر په خلاف اولس ته یو تکړه رږغ دی ,,بدلون،، یوه روښانه ډیوه ده چې د اباد اولس او سمسور هیواد لار پکښې موندل کیږي د طبقاتي جنګ او د ټولنیز عدل د مبارزې د میدان د یوه سپاهي په حیث هیله مند یم او خواهش کوم چې د ملګري عزیز د فکر لښنده نوره هم پیاوړې شي ،پوخوالی وه موندي ،لوړه او زوروره شي چې د قلم په غشي نور شعرونه او مضامین جوړ کړي طبعي ده چې لا هنري او زیات کیفیتي او پاخه شعرونه چې د ظلم او جبر د خان او رجعت دا مصنوعي زبږ هسک رانسکور کړي.

پروفیسر حمید خان

کوټه **02-01-2015**

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جمالیاتي او مزاحمتي شاعر

د ځوان شاعر عزیز احمد عزیز دا زیار د ستایلو وړ دي چي ده خپل منظوم اثر چاپ ته چمتو کړی دی او د ادب جهان ته یې یو نوی ګلبوټی و سپارلو.تر څو چي مي دا کتاب لوستی دی نو دا پرېکړه بې ځایه نه راته ښکاري چي پکي شاعر خپل شاعرانه وجدان په هنري پسول پسوللی دی او جمالیاتي احساس یې د وخت او سستم په ستم کي هم ژوندی ساتلی دی په مشخص نظر یې جهان لید کړی دی .او بیا یې په خپل شاعرانه کمال تجسیم کړی دی. د خوار اولسونو انځورګیري یې کړې ده.

دا قسم ادبیات له ویني څښونکي فاشزم سره په مقابله کي د خپل تکامل یوه بل پړاو ته داخل شوی دی .چي دا پړاو د غښتلي سوشیالستي سستم له منځ ته راتګ څخه شرو کیږي د د غه وخت ادبیات او تېوري په ګډه او یوه سنګر کي د زیارکښو انسانانو د ګټو ژغورنه کوي او د سولې او سوشیالزم د ګلشن څارنه کوي . څه رنګه چي امپریالزم په اوسني وخت کي د خپل بحران په مرحله کي واقع دی نو د امپریالستي ادبیاتو ننی بحراني کیفیت له امپریالستي بحران څخه پرته د مطالعې وړ هم نه دی.

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مترقي ادبیاتو اوتېوري ډېري ښې ځانګړتیاوي په دې کي دي چي د باداری، فیوډالی او بورژوازي ادبیاتو پر خلاف د خواریکښ انسان د حاکمیت او په بنیادي تحلیل کي د بې طبقو ټولني د جوړېدو له پاره زیار باسي مترقي ادبیات د طبقاتو د محوه کولواو له یو انسان څخه د بل انسان له استثمار څخه د خلاسي ټولني په لور بریالیتوبونه تر لاسه کوي.

د ملګري عزیز په دې شعري مجموعه کي مي بشپړه دا زیارپه نظر راغلو چي پکي د نړۍ زیارکښو ته یې دا درس وؤ چي نور د سامراج او د هغه ګوډاګیانو څخه خپل منافع او انرجي ژغورو او خپل ژوند ته به خپل جنت لټوو.

د دې ځوان شاعر په شعري بېلګه او د ده په عمومي میلان کې مي بشپړ دا احساس او د تفکراساس مي داسي محسوس کړی دی چې دی په ادبي جهان کي د هغې میتودولوژي (Methodology)او ایډیالوژي (Ideology)له پلویانو څخه دی د کومو تهیورستان (Theorists) لارښونه چې ماکسیم ګورکي او د هغه لارښود استاد ولادمیر لینن لاره په پوره متانت سره پر مخ وړي او د استادانو ځلاندو پرنسپونو( Principles) په رڼا کې د ادبیاتو د اصلي ماهیت او مضمون لا پسي روښانه کوي ځکه د استادانو اډیالوجي زموږ د وخت هغه پیاوړې اډیالوجي

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې د نړۍ په خورا پېچلو سیاسي ،اقتصادي اوفلسفي حرکتونو کې موږ ته علمي حقایقو او عملي مبارزو لوری را ښودلای شي د دې اېډیالوجۍ ډېر لوی فرق له نورو سره دا دی چې ټولني ته د طبقاتي تنازع په هینداره کې ګوري.

نوې ادبي تهیوري د شاعرانو او ادیبانو د تخلیق په باب تل طبقاتي تحلیل او دریځ لري ځکه نوې ادبي تهیوري هر ادیب او شاعر جلا نه ګڼي بلکې د پرولتوري ادبیاتو منځ ته راوړونکی بدلون ،،سره زر،، لولي او باید د دوی ایجاد شوي آثار د نړۍ د ادبیاتو د پر مختیایي بهیر او هدف له پاره د لارښود حیثیت و لري.

په درناوي

شیر زمان زیارمل

پښتو ادبي ټولنه کلا سیف الله

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عزیز احمد عزیز یوتاند او تکړه شاعر

شعر لیکل هر کله د یو شاعر دضمیرد نازک تخیل هغه زړه لړزونکی ږغ او سپېڅلی احساس وي چي شاعر پکي بلاخوا ړه او ترخه حقیقتونه په ډېره نرمه،خوږه ،پسته ،روانه او زړو وړونکې لهجه سره سرګند کړي وي.آن دا چي داسي رښتوني خبري چي هغه عام فهمه نشي ګرځېدای او نه یې عام وکړي په اولسي ژبه بیانولای شي خو شاعردی چي هم هغسي سختو حقایقو ته ځان جوړ کړي او په پسته ژبه یې و اولس ته په حساسه او سالمه توګه و رسوي.له هم دې کبله و شاعر ته د قام سترګي هم ویلای شو.

که څه هم یو خوا ته د پښتو ادب دا وخت له نېکه مرغه بلا شاعران او چوپړ وهونکي لري.نوبلې خوا ته د ډېرو سترو لیکوالانو له خولې دا ټکي هم راوځي چي و پښتو ته نور د نثر اړتیاده باید شاعران له خپل شعري ذوق سره سره و نثر ته هم مخه کړي.دا خبره به زه تر یو حده تاید کړم خو چي کله سړی د داسي تکړه او تاند شاعر وه هڅانده او نازک خیاله شاعري ته خیال وکړي او په ډېر غور یې و وایي نو زما په خیال د داسي شاعر په شعر کي هغه د نثر خوند او تنده هم پوره او ماته شي. نو بیا نشو کولای چي هغه پورتنۍ خبره سل په سل کي تائید کړو. ولي چي کوم کس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر په نغمیزه ژبه کوم څه څومري په خوند بیانولای شي چې هم خوند وي او هم مقصدیت وي نو باید بیاهغه شاعر نور هم پر دغه کار په دغه لیکه کي تشویق کړل شي. او ورسره یې ملا ټینګه کړل شي. خو د نثر اهمیت هم په دې نه کمیږي او خپل اهمیت به په داسي شاعري لا نور پیاوړی کړي ولي چې په نثر کي د ډیر تریخ حقیقت بیانولو پر ځاي چې د شعرحواله ورکړل شي نو زیات جامعت و مومي.

په هم دغه نغمیزه او هڅانده شاعرانو کي یو عزیز احمدعزیز در یادوم چې دا وخت یې عمر هم بس**۲۵** کاله دی ،خو په دې کم عُمری کي یې په ډیره خوږه ژبه د شعر د تخیل او تخلیق ویاړتر لاسه کړی دی. اودا چې لومړی شعري ټولګه یې وچاپ ته تیاره ده چې نوم یې ورله (**بدلـــــون**) غوره کړی دی. هم زه به یې دا لویه نیکمرغي و بولم.ولي چې عزیزاحمد عزیز وخپل شعر ته یو ټولنیزفکري او فني شکل لري او زما په اند که یې نور هم تشویق کړو نو نژدې ده چې موږ به و پښتو ادب ته یو بل جوهر وموندو.لکه ستر خوشحال بابا چې وایي:

چې غوټې پسي وهې په لاس به درشي
چا وَیل چې په دریاب کې ګوهر نشته

د عزیز احمد عزیز وشاعري ته که په هر اړخیزه ډول ځیر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوړېر څه به په لاس راشي خو په دې اړه چي دعزيز په شاعري څومره زه پوهېږم او په ژور نظر مي لوستې ده نو داسي جوتيږي چي په دې شاعر کي د شعر ليکلو او ويلود تخليق قوت شته او هم يې د شعر فني اړخونه پوره دي.خو که بيا څه کمي پکښې هم وي نو د هغه په هکله به دومره ووايم چي (دښايستې يو عيب نه عيب دی)او که بيا يې د نظر او خيال وخواته راشو نو د عزيز په شاعري کي نازک خيالي ،جماليات ، طبقاتي توپير او ورسره روايتي اړخ هم شتون لري ،او بلي خوا ته ټولنيز ه بې انصافي ، قبايلي تضادات او مذهبي کاروباري اپروچ ته هم د تنقيد په نظر کتل شوي دي چي نن سبا يې زموږ په ټولنه کي په خلاف د تبليغ کولوزيات ارزښت دی.اوکه وګورو نو زموږ ټول ليکوالان هم په خپلو ليکنو او شعرونو کي د دې ټولنيزيوالي تبليغ روان کړی دی او ورباندي زيات زور اچوي چي د عام اولس فکر راواړوي چي د ټولني د بنسټيزوستونځوچاره کول په څه کي ده؟او له دې سره سره د عزيز شاعري نور هم ګڼشمير موضوعات لري چي زه به هڅه کوم او و توانېږم چي په دې ليکنه کي يې راغونډکړم سره د ده دشعر په اثبات . لکه څنګه چې عزيز په ټولنه کې و هغو مخورو ته ګوته نيسي کوم چې هغوی د خپلو ځانونو او بچانو د ژغورلو له پاره د بل د کور ځوانان او وګړي په ناجايزه توګه د جنګ مېدان ته لېږي او نوم يې ورله د غزا ورکړی دی.او شاعرېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو باندي تنقيد كوي اوورسره و خپلو پښتنو ته د يووالي ږغ كوي او د نفرت اوكركي څخه كركه كوي .په هم دې اړه د عزيز د شعرنمونې څه په دې ډول رانقلوم:

ځوانان ليږي او دى په خپله پرنغري پاتيږي
دا مي يقين دى او دغسي له فرمانه ښكاري
بايد چي يو شو د نفاق اورونه مړه كړو زياته
كنې عزيزه! بېقدري مو را روانه ښكاري

او بلي خواته عزيز هغه انسانان هم تر انتقاد لاندي كړي دي كوم چا چي زموږ په ټولنه كي د مذهب غلط پرچاركړى او و نړى ته يې بد ايسوي ،يوازي مذهب د ځان په شخصي ګټه تماموي او ورسره هغه مذهبي ټيكه دارن په ګوته كوي چي ټول عمر يې مذهب د دربار ماتحت جوړ كړى وي. نو عزيز ورپسي ډير په ځيرنيز ډول ګرځي او ورته په تنقيدي نظر ګوري ، څه داسي يې په ګوته كوي:

د څو غټانو درباريان دي ورله ګټي كوي
غاړي تازه كړي آياتونه د قرآن و وايي
مُلا په ورځ كي زما د حـق غاصب دى
په شپه يې چوف كړ استغفار ويده شــو

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بل ځاي خو د استعمار و خواته هم ګوته نیسي چې د خلکواستحصال د ملا یا خان په جامه کې تر سره کوي اوخان و ملا دواړه د یوې غارې ماران بولي .چې دا هم زموږ د ټولنې یوه ستره غمیزه ده چې ساده اولس مو په رنګ رنګ بې ځایه ښایستو شعارونو غولېدلی دی او لا یې نوراستعماري لاسونه غولول غواړي نو عزیز یې داسې په خپل شعري هنر راښکاره کوي:

د ایمان شمعه دې مړه وه ځکه ولاړې
چې دې پرېښودل سنګر او میدان دواړه
په شپه کې راشي سجدې کوي دخان پر درګاه
سهار مُلا شي د جمات او له درباره وځي
دلته د حق ژبه ګونګې عزیزه !
دلته څوک نه کوي صفا خبري

بل ځای بیا په ټولنه کې د بې انصافۍ او بې معیاره قوانینو ته هم بد وايي او د خپل قام خواخوږي سرګندوي او له دې سره سره خپل قام دسولې اوامن قام بولي کوم چې ټولې نړۍ د جنګ میدان د هغو وطن جوړ کړی دی:

څوک انتظارکښې دخیام ځنګېږي
څوک بیا په هیله دکوثر ویده دی

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمدعزیز

نوروته هر څه ور رسیږي په ژوند
خو یو پښتون دی چې نهر ویده دی
د سولې خلک جنګ ته وه هڅوي
ګورئ غوغا مې په کابل ګډه شوه

عزیز په خپله شاعري کې د پښتو و متلونو ته هم تر خپله وسه ځای ورکوي او د خپلو تیرو اتلانو وخبرو ته هم غوږ نیسي او په داسي شکل یې بیانوي:

خپله خوله کلا ده هم بلا خلګو
نه یم په خبر خو پښتانه وايي
زه عزیز له ژونده ځکه ستړی یم
دلته پس له مرګه چاته ښه وايي

خو تر ټولو مهم اولوی احساس چې دځپلي اولس د راوینولو له پاره لري په ټولنه کې د انصاف له پاره خلګ راو پاروي او ورته په ډاډه زړه د خپل ځپل شوي اولس او د قام د مشرانو په منځ کې چې کوم معاشي فرق شتون لري هغه په ګوته کوي او دا معاشي فرق په ډیره سالمه او خوږه لهجه بیانوي او دا معاشي توپیر و ټولنه ته ور ښکاره کوي.

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ خو يې سر و کال په خوله ګرځوو
ستا سو پر کلي خو روږه تېره شوه
په لوږه، تنده غريب شپه تېره کړه
په بېغمۍ باندي سالار ويده شو

عزيز په خپله شاعري کې له وطن سره هم خورا زښته مينه سرګندوي ، د وطن هر بوټی ،کاڼي او لعلونه ښه ايسوي او د هيڅ وطن پر محلونو خپله جونګړو نه سودا کوي .او که هرڅو ښه او بد حالات يې پر وطن راځي خو دی يې و مقابلې ته تيار دی او نه غواړي چي وطن دي د پريديو په شکيل کي راشي او پريدي دي باچاهي پرې وکړي .او دخپل وطن مظلوميت هم د بل تر باچاهۍ ښه او ويارمن بولي .د نورو وطنونو په بدله کي خپل وطن ښه ستايي او خپل وطن د ځان له پاره غنيمت لولي .عزيز چي په دومره کم عمري کي دی هم ځان د نورو هيوادونو د وګړو سيال بولي او هيڅ په خپل خوارږه وطن او دخاپوړو پرځای د تور داغ لګولو زغم نه لري بلکې پکي د امن راوستلو تلوسه لري .لکه چي وايي:

د هـــر وطن حسن ستايلو لــه وي خپل شاعــران
زه خپل ښايست ليکم پر لويه پښتونخوا يې ليکم
هغه د ګلو وطن نه وو اوس د جنګ کلی وو
د ظالمانو بې دردانو په لاس ړنګ کلی وو

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنيا يوه ده په سلا مو ولي
تاريخ د ګراني پښتونخوا مو ولي
زه پرې خوشحال يم خو دا نه چي جنازې ترې باسم
ماته د امن او د ميني پښتونخوا په کار ده

او يو بل شی چي د عزيز و شاعري ته يې ځانګړتيا ورکړې ده هغه (سترګي ) دي .چي دا يو توری ډير زيات کارول شوی دی او په رښتيا هم په هرهغه شعر چي سترګي توری پکي کارول شوی وي ډيرپه پسته او خوږه ژبه پکي رانغښتل شوی دی او واقعاً يې هم و هغه شعر يا غزل ته ځانګړتيا ورکړې وي. او د عزيز په شاعري کي د يو خاص علامت په توګه ښکاري چي ورته په شاعري کي علامت نګاري ويل کيږي د بيلګي په توګه:

زړه کښې خو مي ته يې او ستا سترګي دي
ياره ښايستې دي رښتيا سترګي دي
زه دي په ابرې ابرې کړم ياره چي
سرې لمبې اورونه که دا سترګي دي
ماته وايي هيڅ حال به ته نه وايې
زه يې ځنګه پټ کړمه زما سترګي دي

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر مي ستا په پښتنو سترګو کي
بلا مزې دي په دې دوو سترګو کي
ځومري حيا او رنګيني پرته ده
ستا مهذبو ښايستو سترګو کي
خلګو له ما نه به ګيلې نه کوئ
ورک لېونی شوم لېونو سترګو کي
ځکه خو نه اوړي نظر له تا نه
مينه دي ډېره ده په مړو سترګو کي
عزيز چي داسي له دنيا جلا يم
فکر مي اړ دی په هغو سترګو کي

ولي چي په عامه توګه کله يو شاعر زيات يو توری يا لفظ يا د يو شي نوم په يوه غزل کي زيات رانغاړي نو هغه غزل بيخونده شي .خو عزيز په کارولو سره زيات خوند او خوږوالی پکي پيدا کړی دی.

عزيز په خپله شاعري کي د پښتو ژبي نورنوموړي شاعران هم ستايلي دي او داسي ښکاري لکه چي د پښتو په شاعرانو کي يې د نوروشاعرانو په پرتله دا ياد کړي شاعران ډېر خوښ وي او د شعر په نغميزه ژبه يې و قام ته ور ښکاره کړي دي.

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما و ژبه ته یې مینه او ښکلا ورکړې درویش* مې هم د زړګي سر دی او کاروان* مې خوښ دی

اوس به راشو د یو ځوان شاعرو ځوانه شاعري ته چې په خپل وخت کې او د ځوانۍ په تاندو شپو کې شاعر کومه شاعري کوي او ورته د هغو وګړو مخ را اړوي کومو وګرو ته چې د مینې او رومانس دردونه رسیدلي وي او د شاعرۍ په ژبه موږ ورته نازکخیالي یا جمالیات وایو.په رښتیا هم عزیز خپله شاعري په دې زرین او ښایسته شال هم ناوې کړې ده او و خپله شاعرۍ ته یې د ناوي د لومړۍ ورځې زړه راکښونکي خالونه هم ایښي دي او دا نازکخیالي یې هم په ډېر ښایسته انځوریز شکل شاعرانه کړې ده او یقیناً به ورته د هر یوه ویونکي زړه هځېږي.او دا خیال یې له هیڅ شاعرسره په تړاو کې نه راولم ولې چې عزیز په دې خیال کې یوازي خپله دمینې لړۍ راټوله کړې ده ،په هم دې وجه یې ځانګړتیا په برخه ده، په ټوله شاعري کې یې د مینې شاعري کړې زیاته لیکلې ده او مینه یې د خپل ژوند یوائې هغه مقدس او پاک مقصد ګرځولی دی او د ژوند هر څه چې کوي د مینې په پیمانه کې یې غواړي او مینه د ژوند داسي بامقصده احسا س لولي چي به غیر د مینې د ژوند کړه وړه ورته نیمګړې ښکاري. د مینې شاعري د عزیز و ټوله شاعري ته لا ځلا او ښکلا و ربخښلې ده.نوراځی په دې هکله یې هم شعري نمونې ولولو:

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه سهار نه کړې جُدا به شو مونږ
په پسته غبږ کې مې دلبر ویده دی
اوس په تنکۍ ځوانې کې ګډه شوله
اوس یې مستې ده د بڼو پر کلې
ستا پر جمال یې لیکم جانه پر ښکلا یې لیکم
ما چې غزل کله لیکلې ده پر تا یې لیکم
لا خو یې و پالې د ځان په رنګه
لا څوک د چا د زړګې غلا نه کوي

د مینې په دونیا کې عزیز په خپله د خپل محبوب په وړاندې هیڅ کله دا نه خوښوي چې ځان د محبوب په مخ کې بې وسه ثابت کړي او هر وخت داسې انځوروي چې دی ورته ځان محتاج وګڼې بلکې هر وخت په دې هڅه کې دی چې پر محبوب باندې ځان ګران کړي او هغه یې په مینه و پسولې او په مینه کې د خپل محبوب له مخې تکبر او غرور ښکاره کړي که څه هم داسې نه شي کیدای خو د محبوب ځان ته را جلبولو یوه ښه لاره یې غوره کړې ده چې پر محبوب نور هم ځان ګران کړي او نور یې وه نازوي. عزیز هر کله په مینه کې د دې ادا ډېره تلوسه لري چې د مینې بار نور هم پر ځان واړوي او تل ورسره محبوب زیاته مینه وکړي د هغې وجه هم دا ده چې دی په خپله ډېره زیاته مینه و خپل محبوب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وربخښي تش د لباسي ميني هيڅ نه دی قايله.يعني په مينه کي غرور او نازونه ډير خوښوي چي له دې کبله به ورته د نازونو او اداګانو شاعر و وايم.د بيلګي په توګه.

ما يې پر لاس عزيز ليکلی نوم خراب کړو ور نه
هغې خندل وئيل يې بيا ورځمه بيا يې ليکم
عزيز به نور پر ځنګانه ويده ووم
هغې ويل خوب دي تنها نه کوي
اوښکلني سترګي له ظالم دستوره راله وايي
عزيزه! زه به درته ډيري کوم دعا مه راځه

عزيز په خپله شاعري کي د ټولني و هر اړخ ته پام کړی دی او په خاصه توګه يې په ټولنه کي د معاشي توپير او د ټولنيز توپير ډيرزيات غندلي دي او د داسي نظرياتو او نظام يې په ډيره ښايسته او مدليله توګه غندنه کړې ،د کوم له وجي چي په ټولنه کي د لوړي طبقې له لاسه پر لاندي طبقه ډير زياتوب کيږي او هيڅ څوک يې په دې لاره کي نه دي معاف کړي لکه په خاصه توګه يې د ظالم نظام ملګري هغه که خان وي که مُلا وي او که نور قامي مشران چي کوم څوک د غاصبانو يا ظالم نظام ملګرتيا کوي. يعني و هيڅ چا ته يې دا حق نه دی ورکړی چي هغه دي په زور او ظلم د مظلوم او محکوم حق و وهي.

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزیز په خپله شاعري کې د غزل څخه پرته و نظم ته هم ځای ورکړی دی او تر خپله وسه یې ډیر ښه نظمونه لیکلي دي او د نظم پر دوو اصنافو یې کار کړی دی یعنې سپین یا ازاد نظم او پابند نظم باندې یې کار کړی دی نظمونه یې هم تر زیاته حده د شعر په فني تول پوره دي خو د ،،بدلون،، ،اوس هغه د ویر کلی دی ،، ،،یوه ګیله او مدعا ،، یې ډېر ښه او جالبه نظمونه دي.
له دې سره د عزیز په شاعري کې یوه کمي محسوسیږي هغه دا چې په زیاتو شعرونو کې د اردو ،فارسي او مات ګوډ عربي ژبې ټکي کارول شوي دي چې ځاي په ځای یې د شعر سپیڅلتیا او سادګي ته هم څه زیان رسولی دی. خوزه په دې هیله یم چې دا کمي به هم له وخته سره له منځه وباسي .نور نو تاسو او دعزیز د شاعری په منځ کې ځان نه خنډوم او قضاوت هم وتاسو درنو لوستونکو ته پریږدم.خدای دې د عزیز په شاعري کې لا ښکلا او ښایست راولي د ده د تل بریالیتوب او پرمختګ په هیله.

په مینه او درنښت

محب الله ښېراز

پښتو ادبي ټولنه کلاسیف الله

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه به څه ووٌ وایم

ترهر څه د مخه په دې شکر اېستل په کار دي چې د پښتو ادب لمن دا وخت ډېره پراخه او غني ده .او ډېرداسي انسانان دې خاوري زېږولي دي چې له پښتو ژبې او قام سره بېکچه مینه لري .او له یوه اړخه هم دا انسانان خپله خوږه ژبه خوارېدو ته نه پرېږدي.که څه هم په دې وطن کي دا پوره هڅه کیږي چې موږ له خپلي ژبي ډېر بیرته پاتې شو په مکتبونو ،عدالتونو او دوترونو کي په پښتو ژبه لیک لوست څه چې وئیل یې هم لویه ګناه بلل کیږي آن تر دې چې د دوږخ ژبه یې ورته وئیلي دي.

له دې ټولو بندیزونو سره سره د شاعرانو او لیکوالانو جمِ غفیر دی،ډېر لېوني بې غرضه د دې ژبې خدمت نه یوازي کوي بلکې پر ځان یې فرض لولي. د شاعرانو په دې جمله کي ما هم خپله ونډه اخیستې ده او په داسي حال کي مي شعري ټولګه چمتو کړې ده،چې ټول وطن د تباهئ او بربادئ سره مخ دی . ټول قام شل او د ظلم و بربریت ښکار دی.

په خپل **۲۵** کاله ژوند کي چې مي څه لیدلي او کتلي دي ، د ټولني ډېر وېرونکی او زخمي زخمي تصویر په نظر راځي مکتبونه په بارودو الوزي واړه واړه ماشومان په مړدکو سوري کیږي د وطن ټول غرونه او سیندونه د نورو په واک و اختیار دي او په لکونو انسانان د مرګ شومه شول. او دا عمل نن هم په ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپين سترګۍ روان دی. د انساني ويني هيڅ قيمت او ارزښت نشته.
ما خپله شاعري چي څومره کړې ده ښکاره خبره ده د داسي حالاتو اغېزه به ضرور لري تقريباً د شپاړسو کلونو وم چي د پښتو ژبي کتابونه مي لوستل او له دې سره مي خپله هم ماته ګوډه شاعري کوله.تر ډېره مي خپله شاعري له ځانه سره پټه ساتله خو بيا د ځينو ملګرو په مرسته او لارښوونه مي د شاعرۍ باقاعده پيل د کلاسيف الله د شاعرانو ملګرو سره د ,,پښتو ادبي ټولني،، څخه وکړی.
د ملګرو ډاډ او حوصلې راکولو دومره توانا کړم چي نن مي شعري ټولګه چاپ ته چمتو کړې ده.شاعري مي ښه ده او که بده؟ په معيار پوره ده او که نه؟ دا قضاوت تاسو ته پرېږدم خو دومره ده چي تر حاضر ساعته مي چي څومره توان وؤ دا مي کړی دی.
هڅه مي کړې ده چي د خپل دانش او خام عقل برابر د سماج ټولي ناخوالي،طبقاتي تفاوت ،جبري استحصال،قامي مظلوميت ،مُلايت او قبايلي ناولي رسومات او نوري ټولي غميزي په ګوته کړم چي د دې وخت انسانان ورسره مخ دي.
پخپله شاعري کي مي دخپل ژوندانه تودې،سړې د جانان جفا او وفا ، د هجربادونه، د وصل مانښامونه او د ميني ارزښت ته پکي بشپړه ځای ورکړی دی. د مطلق شاعر په حيث مي هڅه کړې ده

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ژوند لوړې ژورې په شاعرانه آدابو کې و پسولم او د جمالیاتي احساس هغه تنده چې په ژوند کې باید وي د هغه احساس ترجماني او تجسیم و کړم.

# مننه

د خپلو ادبي ملګرو انور انور،نواز قایل، کلیم الله کلیم،خلاق ودان،ستارزېرى، خدائیداد شبګیر،محِب محسن، عالم عادل، سلام کاکړ ،ظفرفدا ، ګلزار عاصم، لعَل محمد عاصم، حبیب ثاقب، سمیع خوشحال ،حلیم کاکړ او زین الله کلیوال ډېره زیاته مننه کوم چې د شاعرۍ په اصلاح کې یې مرسته راسره کړې ده ، د مینې یې پوره وړی یم.

# مننه

د خپل سیاسي او محترم ملګري سید اکبر کاکړ او هغو ټولو ګوندي ملګرو زښته مننه کوم چې زما سیاسي او نظریاتي اصلاح یې کړې ده او د ژوند په هر ډګر کې یې کلکه ملګرتیا

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزيزاحمدعزيز

راسره کړې ده .او د ملګري احسان الله ميرزيي د زړه له تله کورودانی کوم چې د کتاب د مالي لګښت په چارو کې يې راسره ډېره مرسته کړې ده.

# مننه

د کلاسيف الله د سيمي د تکړه سندرغاړو لکه امين شباب،بشرمل کاکړ،رحمت واقف او روزي خان شوق کور ودانی کوم چي په خپلو ښايسته اوازونو يې زما شاعري زمزمه کړې ده.

**په مينه**

**عزيزاحمد عزيز**

**پښتو ادبي ټولنه کلا سيف الله**

❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بدلون

دا فرسوده مړ د لویانو نظام
د زورورو چاپرانو نظام
د ځو بې رحمه شیطانانو نظام
د ځناورو دلالانو نظام
چیري چي ګټه ځو ماړه پړسوي
چیري چي هر اسراحت خان ته نصیب
چیري چي خوار ته ژوندون شین تاورین دی
د دنیا خوند او خوږلت خان ته نصیب
چیري چي ظلم وي ظلمت اوسیږي
چیري چي قدر د بشر نه کیږي
چي و لوړپوړو ته هر څه ور رسي
داسي نور ګران دی نور وخت تر نه کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون                                        عزیزاحمد عزیز

**له دې نظامه بغاوت پکار دی**
**دې کې ساه تنګه د خوارانو خلکو**
**دا په هیڅ شکل د منلو نه دی**
**بس په یو ځای شئ زیارکښانو خلکو**
**د مزدور ټټره پاکول په کار دي**
**د جبر مخته درېدل په کار دي**
**د نفرت لیکې ختمول په کار دي**
**شمعه د علم بلول په کار دي**
**له غلامۍ نه ځان اېستل په کار دي**
**له هره لوري پاسېدل په کار دي**
**دا ځناور رسوا کول په کار دي**
**تر خپل مرامه رسېدل په کار دي**
**چې سره یو رنګ انساني ژوندون شي**
**داسي بدلون ته لاره ورل په کار دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دنیا څه کوم که خپل که راته ځان و وایي
خدای خو دي وکړي چې جانان راته جانان و وایي

د څو غټانو درباریان دي ورله ګڼي کوي
غاړي تازه کړي ایاتونه د قرآن و وایي

زما ایمان دی چې د خوار سړي اواز اُچت کړم
ته خو هغه کوې چې څه درته خانان و وایي

په ځان کې و ګورم چې خوله یې شوه خطا که څنګه؟
هغه تجلۍ چې راته کله کله ګران و وایي

خپله خو تاته ښکاري پره یم خو زه چیري منم
هله منم چې قصیده دي غریبان و وایي

د ژوند په کلي کې **عزیزه**! لا بې برخي نه یو
داسې څوک شته چې د خوارانو د ارمان و وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون                                                  عزیزاحمد عزیز

هیڅ نظر پر ما د احسان نه لري
زړه لکه چې هغه جانان نه لري

هغه چې په ځیرو ځامو ګرځېدل
نن هم خوار وزار دي اسمان نه لري

زړه مې غواړي ووینم یو داسې کَس
څوک چې په دنیا کې ارمان نه لري

ته چې یې تواف ته هره ورځ راځې
دوئ یوه خویه د انسان نه لري

چاچې هم رټلي وو دا خوار اولس
ګوره نن په غاړه ګرېوان نه لري

ما **عزیز** چې څومره ښکلي ولیدل
هیڅ څوک ستا په رنګه چشمان نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ییا مې ژوندون احساس کړو ییا مو سره روغه وشوه
یاره خوب وینم که رښتیا مو سره روغه وشوه

نه څوک راغلي دي نه پړ مالوم نه وړ مالوم دی
بې له خاثانو بې مُلا مو سره روغه وشوه

موږ په خندا کې یو له بله مرور شو سره
موږ مخامخ شو په ژړا مو سره روغه وشوه

ییا به بدلون راځي چې ظلم د هیڅ چا نه منو
که خواران یو ږغ شو پر دا مو سره روغه وشوه

څه غچ دي واخیست د خوار قام د بربادۍ د بدل
څوک مو تر میان ناست وؤ پر چا مو سره روغه وشوه

جانان وئیلو **عزیز** نور یواځې نه پرېږدمه
که خدای پر یو ځای کړو او لا مو سره روغه وشوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کم یو تورتم چې پر جهان یادیږي
دلته وجود لري هر آن یادیږي

څه د حالاتو مجبورۍ به لرم
ګنې خدای شته ډېر مې جانان یادیږي

چې تر سهاره به موږ دواړو شمېرل
کله دې ستوري د اسمان یادیږي؟

خپله دې هم پر دنیا څه کړي دي؟
که دې تش نوم د خوشحال خان یادیږي

دلته د بل په غم څوک نه دي خبر
دلته و هر چاته خپل ځان یادیږي

چې د ځپلي قام په غم غمجن وو
نن راته ډېر هغه انسان یادیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خدایه په ښکلي هنر دي و نازاوو**
**ساده عزیز مي په ایمان یادیږي**

## څلورشعرونه

**لږ خو یې پوی کړه یم ستومانه ما له خوبه پاسي**
**غزل خیالونه دي جانانه ما له خوبه پاسي**

**په ډکو سترګو ورته ګورمه یواځې ناست یم**
**ستا تصویرونه پر ما ګرانه ما له خوبه پاسي**

**هغه یې نه مني د خپلو سترګو زور نه مني**
**ته پرې ګواه اوسه اسمانه ما له خوبه پاسي**

**ستا پرندې سترګې نازولې کاته تیر باڼوګان**
**ته راخیر نه یې قربانه ما له خوبه پاسي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

ستا په باب لیکم خوندوره شي څو ورځې کیږي
هره خبره دې سندره شي څو ورځې کیږي

لکه چې نور یې لمسوي خو ځکه داسې کوي
اپله پر نه ګای مروره شي څو ورځې کیږي

ګرانه بې تا چې شوم معیوب یم له هر څه و وتم
لکه مرغه چې بې وزره شي څو ورځې کیږي

خدای مه کړه کور یې لکه بیا زما پر سر وهلې
مخ رانه پټ کړي په لار تره شي څو ورځې کیږي

بیا پر منبر وعظ د قتلو کوي او بیا مو وژني
بیا مې تر غوږ هغه خبره شي څو ورځې کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لاري مل مي وؤ پر ښنګ به مي روان وؤ **عزیز**
کاش که جانان و وایي یو وخت مي جانان وؤ **عزیز**

وئیل یې نن و رقیبانو ته خبر شومه زه
نور نه پوهېږم خو له زړه راباندي ګران وؤ **عزیز**

پر نه خبره به یې زړه بدېدی هم ښه کېدی
عجب ساده وؤ عجیبه غوندي انسان وؤ **عزیز**

که د حالاتو مجبورۍ نه وائ هغې به وئیل
داسي به نه وؤ والله سم به مي په ځان وؤ **عزیز**

ماته یې و وئیل چي نور دي په پاک خدای سپارمه
بیرته به رالو او پر خپل ګای به پښېمان وؤ **عزیز**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحیا څادر یې واغوست زما مینه پښتنه شوه
مستي هیلي مي شوې ځواني لا مي نوره تلوسه شوه

اوس دي یاد دي که دي هېر دي تا به دا راته وئیلې
بس تر مرګه پوري ستا یم دا مي تا سره وعده شوه

ناخبر جنتي وروره چې دوزخ دي راته جوړ کړو
دغه تکه سپینه توره دي د چا په وینو سره شوه

توري خاوري شول قتا شول د هغې مور ارمانونه
نن د زوئ په وینو سره ده نن یې پوري دروازه شوه

زه دي پېژنم مختوره چې د چا د لاري مل یې
نن دي بیا بادار راضي کړی نن دي بیا تبۍ توده شوه

چې تر اوسه لوی قاتل وؤ چې تر اوسه ګناهکار وؤ
نن د هغه سړي مل یې اوس دي هغه ژبه زده شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چي عزيز باندي مئين دی چي مدام ورپسي ژاړي**
**له هغه يام څخه وګورئ هغه پېغله ښکاره شوه**

## دري شعرونه

**لکه جنت کي چي روان يم له دنيا نه لاړ شم**
**ستاسو تر کلي چي زه کله هم جانانه لاړ شم**

**خلک دي ټول د کوڅې وائي دلته بيا مه راځه**
**لږ مي دي پوئ کړي چي زه څه رنګه له ځانه لاړ شم**

**په جانانه غيږ کي يې دا رنګه سکون درلودئ**
**زړه مي بيا نه غوښت چي له ګران افغانستانه لاړ شم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

کله ګلاب کله لمبه شي جانان
بلا مزې وي چې غُصه شي جانان

دلته مي خیال او ځان له واکه وځي
کله چې هلته راښکاره شي جانان

د عشق جهان کې بلا زړه ته تپر دی
کله غزل کله ټپه شي جانان

زه چې پر خپل ژوندانه فکر وکړم
یوه حسینه شان کیسه شي جانان

په داسي حال کي زندګي تېروو
کله تري زه کله خفه شي جانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

دلته څنګه بانه* وکړي هلته څنګه محفل جوړ کړي
دلته زخم زخم راکړي هلته ګُل په اوربل جوړ کړي

د خالق قدرت ته ګورم او بیا زه ورته حېران شم
چاته څرنګه ژوند ورکړي چاته څنګه اجل جوړ کړي؟

په هغه ورځ پېښي زیاته نازنینه ښایسته وي
لېونۍ چې سینګار وکړي ښکلی ځان لکه ګُل جوړ کړي

خداې دي دلته له غمونو ښایسته پېښور ساتي
هم دي هلته د خیالونو نازولی کابل جوړ کړي

کله کله مي ورخپل کړي ما جانان په زړه کي ساتي
کله کله انکار وکړي بیا د نه راتلو چل جوړ کړي

هغه اوس یواځي نه دی اوس یې ځان سره سات تېر دی
ستا **عزیز** په شپه کي کښېني دسلګو نه غزل جوړ کړي

*بانه: د عذر یا بهانې ته وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغسې ځوانه او هغسې بې تازه ګرځوم**
**د زړه په کور کې به جانانه ستا څېره ګرځوم**

**چې دې پدرنګو ته وروښپیم دا خپل رنګونه**
**نو ځکه زه ورپسې لاس کې آینه ګرځوم**

**سترګې یې ډکې شوې له اوښکو په نه زړه یې ویل**
**جانانه شوم ډېره ناوخته دروازه ګرځوم**

**قسم مې کړې درته شپخه چې منم به دې نه**
**که خولې ته راشې هزار ځله خو توبه ګرځوم**

**عزیزه! سر ځې او که مال خو پروا نه پرې کووم**
**له دې چوکاټ او له دې کوره به لمبه ګرځوم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

**بې وسه ګورم د دِلبر کلي ته**
**د نازنین یار مرور کلي ته**

**هیڅ پکښې نه وو بس سپېره پاټه وه**
**په اُمید لاړم د ګودر کلي ته**

**ډېر مظلومان به دې تر غاړه نیسي**
**که ته حاضر شوې د محشر کلي ته**

**کاڼي په لاس مې غریبان لیدلي**
**په لڅو پښو د زورَور کلي ته**

**بیا مې توبه ده یاره نه به راځم**
**ستا د تهمت و ستمګر کلي ته**

**ستا د وصال به ډیر سوالونه کوم**
**عزیز که لاړم د سرور کلي ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمرونه تېر شو چې جُدا یو بس دی روغه کوو
هسې د خلکو د خندا یو بس دی روغه کوو

هغه رقیب مختور ته وګوره خوشحال په مونږه
چې تهمتونه سره وایو بس دی روغه کوو

هغه دې یاد دې یو بې بله به مو نه وؤ وخت تر
لیرې د نورو په رضا یو بس دی روغه کوو

تر څو به داسې د پرېدیو په پنجو کې ګیر یو
تر څو به داسې پښتوا یو بس دی روغه کوو

زما د سر دښمنان ټول سره را جمع کړه بیا
وایه **عزیزه**! چې مونږ ستا یو بس دی روغه کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بدلون — عزیزاحمد عزیز

**که دې شوم ييا پر سترګو دوؤ برابر**
**درځم په در لره پر پښو برابر**

**ما ويل زړه مې ستا له غمه شين دی**
**ده ويل دا به شي ورو ورو برابر**

**د قلم ژبه هله خونَد پيدا کړي**
**چې شي په ژوند پر حادثو برابر**

**چې سره يو کړې دا پيوزله مخلوق**
**منم دې هله پر پښتو برابر**

**چې د وصال په جام يې نه کړې اوبه**
**عزيز به نه شي ترهغو برابر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورشعروڼه

زړه مې ناڅاپه په درزا شولو پرون ماځيګر
هېر به مې نشي تر قیامته د جنون ماځيګر

لکه د کال په شانې اوږد شي ما لیدلې خپله
خدای دې ځِن ساتې هر سړی ګران د پېلتون ماځيګر

موږ يې په وينو رنګولې يو په هره ورځ کې
موږ يې نه پېژنو چې څه وي د سکون ماځيګر

هغه د چا په غم کې ډوب وو چې مدام يې ژړل
هغه چې ايښې به يې سر وو پر زنګون ماځيګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه په کور کې مې هغسې ارمان پیا پاته شو
مکمل نه شولو تصویر د جانان پیا پاته شو

د جبر کوم سیلاب چې راغلئ زه او ته یې یوړو
مُلا هم ځنډي ته ولاړ وو او خان پیا پاته شو

چې د یتیم پر اننګو به اوښکو لیکه وکړه
ما ویل را ړنګ به شي خو ګوره اسمان پیا پاته شو

پیا مې د خپل خلوص په پیه باندي دا وګټل
پیا له ملګرو شوم جلا او کاروان پیا پاته شو

جبر که څه هم بدل شوی خو کم شوی نه دی

هر څه د لویو دي عزیزه! خواران پیا پاته شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړونو خوښي څو چلا دي
د جانان سترګي له هر چا چلا دي

راته يې ووېل په مرګ به درځم
په ژوندون لاري زما و ستا چلا دي

ته په محل زه په جونګړه کي ناست
کړي چې تا، کړي چې ما چلا دي

هغه دقام د حق راوړونکي خلګ
هغه له دغو په رښتيا چلا دي

**عزيز** د يار په زړه کي کور جوړوم
ځکه خواری مي له دنيا چلا دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمرګ په غېږ کي راله بله زندګي راکوي
ما د اورونو په لار بيايي خوشحالي راکوي

وخت برابر دی چي سودا ورسره وکړمه زه
محبوبا غواړي رانه زړه، راله ځواني راکوي

ارمان يي دا دی چي له ګوتو مي قلم وباسي
هڅه يي دا ده چي ټوپک راله دستي راکوي

د ده چي خوښه وي نو هر څه په اسانه يوسي
خو ماته خپل حق لا په سوال او په زاري راکوي

**عزيزه**! دلته وينم زه چي ورور د ورور دښمن دي
داسي څوک نشته چي په درس د ورورولي راکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**داچي دغم پلنډه زما په سر ده**
**ستا له تهمته مي آشنا په سر ده**

**پټ د سینې په حال یې ځان کړه خبر**
**سپینه پګړی خو د هر چا په سر ده**

**ځکه مو اوس د صبر ټاک نیولی**
**د هر چا طمعه د سبا په سر ده**

**د ځلاند ستورو په شان ډیر اشنایه**
**ستا دښایست خو انتها په سر ده**

**زما د خوار قسمت به دا حاصل وو**
**چې ستا خندا زما ژړا په سر ده**

**شاعران نور دي چې شعرونه لیکي**
**عزیزه! ستا هسې سودا په سر ده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا پر جمال یې لیکم چاته پر ښکلا یې لیکم
ما چې غزل کله لیکلې ده پر تا یې لیکم

که په دروغ لیکم مولا مې دې ګونګی کړي خلګو
یوه ټپه لیکم یو بیت لیکم رښتیا یې لیکم

که چیرې و وینم چې ظلم پر مظلوم روان وي
دا مې یقین دا مې ایمان دی خامخا یې لیکم

د هر وطن حسن ستایلو له وې خپل شاعران
زه خپل ښایست لیکم پر لویه پښتونخوا یې لیکم

ما یې پر لاس عزیز لیکلی نوم خراب کړو ور نه
هغې خندل وئیل یې بیا ورځمه بیا یې لیکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

زه يې د مخ په آئينه کې ورک شوم
که يې د زلفو تاريکه کې ورک شوم

بيا د راتګ اميد مې نسته خلقه!
په داسې کور داسې جلوه کې ورک شوم

زما دهيلو غوټۍ مړې کړې خزان
زه په ناترسه زمانه کې ورک شوم

اول مې څرک کاوؤ زه لمر پېژندم
هغه غمی يم په اېره کې ورک شوم

له خپله ځانه او دنيا بې خبر
ستا دښايست په سلسله کې ورک شوم

عزيز په دې باندې ډېر فخر کوم
د اديبانو په جُملة کې ورک شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزيزاحمد عزيز

**په ډک محفل کې هم اېکړ يمه څه داسې کار دی**
**په ژوندانه کې لکه مړ يمه څه داسې کار دی**

**دا څويم وار دی چې جانان راپاندي ګرمه کوي**
**دا څويم وار دی چې زه پړ يمه څه داسې کار دی**

**هغه به خود کوي تاژونه څه عجبه نه ده**
**زه ملامت يمه زه اړ يمه څه داسې کار دی**

**ډيري مودې وشوې ماښی دی او خبر يې نشته**
**چې هوادار يې د روغبړ يمه څه داسې کار دی**

**حالات چې و ګورمه تا و ماته نه راپرېږدي**
**خو زړه مې وايي چې ستا وړ يمه څه داسې کار دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راشه چې وکړو سره پیا خبري**
**جانانه خوند راکوي ستا خبري**

**د زړه په مینه خو خبر یو سره**
**خیر دی که وکړي دا دنیا خبري**

**تر څو به سوزم د پېلتون په اور کې**
**تر څو به اورم پېنوا خبري**

**دبابا غوښي مي لیوانو یوړې**
**پیا د یتیم دي په ژړا خبري**

**په داسي ښار کي استوګنه کوم**
**دلته خلک بد وړي له رښتیا خبري**

**دلته د حق ژبه ګونګۍ عزیزه!**
**دلته څوک نه کوي صفا خبري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند مي زاوال شو تماشه شوله قرار نه شو
ځان مي تر چار کړو خو هغه سړی مي يار نه شو

پر هره لار ورسره لاړم هر فرمان مې مانئ
يوه ګړۍ راسره هم جانان پر لار نه شو

تشي بد دعاوي ورله ټول عمر خواراتو وکړې
ځکه خو مست دی خان ځاني کوي او خوار نه شو

عجبه نه ده د دې ظلم په وطن کي ورو ښو
د قام خبره چا کوله او په دار نه شو

ما ټوله شپه کول باران او د سيلۍ سوالونه
جانان بيا هم لاړو سيلۍ وه خو ايسار نه شو

چي بې له تا يې شو جانانه د ژوندون وختونه
توري تيارې دي پر **عزيز** چيري سهار نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بدلون عزیزاحمد عزیز

هغه مې ځان دی په ځان ښتګه وکړم
چې نه هېرېږي جانان، ښتګه وکړم

چې هیڅ یې نه کړو را او لوټ یې ډېر کړو
اېله صفت ئو د خان ښتګه وکړم

خوب ته مې نه پرېږدي شبګیر مې ساتي
په خپل نامرده ارمان، ښتګه وکړم

په پټه خوله پر مظلوم نه پاتېږي
په خپل دئنه انسان ښتګه وکړم

زما **عزیز** دی **عزیز** نه پرېږدمه
پرېږدم به کور او خپلوان، ښتګه وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر ساعت کې کوم ستا فکرونه
راسره مله دي وي اشنا فکرونه

په یو ساعت کې یې دنیا پرته وي
څومره خواږه د دلرُبا فکرونه

خدایه یو ځاي په سره ښتکه شو موږ
دلته د هر چا دي چلا فکرونه

موږ د ماښام د ډوډۍ فکر لرو
تا سره نشته پر دنیا فکرونه

راځئ چې ټول سره یوه ډله شو
بس دی نور وکړو د سبا فکرونه

عزیزه! شه د ستړي قام خواخوږي
پرپرږده عیش او بې مانا فکرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستا و تصویر ته مې کتل د زړه قراره ناست وم**
**عجب ناورین وو زه ماښام پیا تر سهاره ناست وم**

**د پېوسۍ عالَم وو ډېر مې ژړل ،ډېر مې ژړل**
**ستا له یادونو سره ګډ وم ګرانه یاره ناست وم**

**مُلا کافر کړم چې مې غوښته ازادي ملګرو**
**په خپل وطن کې وم مګر خو بې اختیاره ناست وم**

**تا چې ویل دالته راځم او نه راتلې جانانه**
**پر هغه ځای په هره ورځ ناست وم بې کاره ناست وم**

**منم چې ستړی وم زهیر وم خو ډاډه په هم وم**
**له مُلا ناست ومه، له خان او له سرداره ناست وم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون                                                 عزیزاحمد عزیز

چې په لیدو پورې یې ساه اخلمه
ستا د دې مږو سترګو بلا اخلمه

هم په دنیا هم په عقبا مې کافي
چې د خوږې مورکۍ دعا اخلمه

زما و زړه ته یې معلوم دی قدر
ځکه جانان په زر بها اخلمه

ستا و کوڅې ته چې درځم جانانه
قدم د اوښکو په رڼا اخلمه

پر شیرین یار مې پېرزو کېږي کله
عزیز د غم پلنډه په شا اخلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

**چي په خیالونو کې یې وَ رسم تر دره پوري**
**والله چي ډوب شم به خوَلوکې تر دې سره پوري**

**ددې نظر قایل یم خپل حق به په خپله اخلم**
**زه انتظار کولای نه شم تر محشره پوري**

**درته قسم خورم د زیارکښو،مزدورانو پرې به**
**زه رسوم چي یم ژوندی تر بحر و بره پوري**

**چي ما و تا به همېشه سره راتلو جانانه**
**پر هغه ځای باندې یم ناست تر ماځیګره پوري**

**نور یې پرېدی توپک له لاسه څخه کارېږو راځئ**
**دقلم پرې به ورو اشنا تر لر او بره پوري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندون مي ټول تېر شو په دغه هيله ييا به راشي
له کلو تللی مرور جانان پخلا به راشي

دا چي له اوښکو څخه ډکي سترګي تل ګرځوم
هيله مي دا، چيري ناڅاپه دلربا به راشي

هره ګړی د انتظار يې د کلونو په شان
چي ويني ويني وطن ګل خوږه قضا به راشي

د صبر چاره د زړګوټي په دې ډول کوم
خير دی که نن نه دی راغلی خو سبا به راشي

داسي مي مه بوله چي مرګ تر ژوندانه خوښوم
دغه وختونه چي پر ما دي نن پر تا به راشي

داسي وخت خدای خبر چي و وينم **عزيز**! په سترګو
چي سره يوشو، يو مرام، يوه سلا به راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا له تصویر څخه به مخ پر بله نه اړوم
تر څو چې کډه د ژوندون پر هدیره اړوم

په کوم ساعت چې دې پیلتون راتلو زما پر لوري
په هغه وخت یې وږ ټیټ کړی چې پاخه اړوم

داسې فکروټو سره مخ یمه جاناڼه همیش
ستاله اولفت څخه به څه رنګه خپل زړه اړوم

ستا په یاري کې مې وجود پر سره انګار کړیږي
بس حال مې مه پوښته ژوندون دې ورځ او شپه اړوم

جانان چې وړی له خپله ځانه سره دا یې وئیل
عزیزه! زړه دې د غمونو همسایه اړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

**هلَته ښه ژوند دی هلَته یې هوسا مه راځه**
**دلته مقتل دی غلامي ده پر دې خوا مه راځه**

**ها جانانه انداز یې نه دی ډېر بدل شو جانان**
**هسې یې دا نه دي وئیلي چې ته بیا مه راځه**

**هغه رنګین ماځیګري نشته هجرې ورانې دي**
**په ویتو لت پت ده سور اور ده پښتونخوا مه راځه**

**تا ژړولي د مظلومو افغانانو مېندي**
**پر خوله دي هیڅ چیري هیڅ کله هم خندا مه راځه**

**اوښکلني سترګي له ظالم دستوره راله وايي**
**عزیزه! زه به درته ډېري کوم دعا مه راځه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزيزاحمد عزيز

کار دڅواب دی د لیلا د زلفو ول لټوم
د ژوند په هیله راوتلی یم اجل لټوم

پېغلې يې خیژې و سنګر ته دسیالۍ د پاره
هسې ثادان یم په دې سترګو کې کچل لټوم

پر دغو خلګو لا تر اوسه لمر ختلی نه دی
نه یې سپوږمۍ شته نه يې ورځ زه يې مشعل لټوم

کلونه تېر شول په دې لاره چې سفر کومه
ازل مې دا د ژوند تر پایه به منزل لټوم

په دغه کلي کې واکمن دی بې هنره خلګ
نور دې اولس ته ،،صنوبر،، غوندې اتل لټوم

چې ستا د مړو سترګو صفت يې پکې نوې کړی
عزیز ناکام شومه تر اوسه لا غزل لټوم

،،صنوبر،،کاکاجې صنوبرحسېن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند کې مې بس دغه څو رښتیا خبرې کړې دي
ما چې د غزل په ژبه ستا خبرې کړې دي

ته چې مرور یې لا دې نه وینم په هغه ورځ
ګونګ دې شم که چا سره مې بیا خبرې کړې دي

بیا مې مرګ روا شو بیا فتوا راپسې ګرځوي
بیا په وازه خوله هغه مُلا خبرې کړې دي

تا له خو هیڅ نه دي ما تر عمره ژړولی شي
نن چې دې رېبار ته په خندا خبرې کړې دي

دوئ وایې چې تاسو به هیڅ نه وایاست او چپ اوسئ
ما که څه روا که ناروا خبرې کړې دي

چا دلته د امن او سکون خبره کړې ده؟
چا دلته د علم او رڼا خبرې کړې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سم لیکم که چپ د شاعرۍ جاج به مي ټول اخلئ**
**ما په ژوندانه کي بس هم دا خبري کړې دي**

**نن به راته سم سوګند کوي چي ستا یم، ستایم بس**
**یه عزیزه خلګو راته ییا خبري کړې دي**

## دوه شعروڼه

**زما مجبوري احساس کړه ګران مي کړه یواځي یمه**
**یاره در خپل مي کړه جانان مي کړه یواځي یمه**

**ما ستا د پاره ټول ملګري او یاران پرېښودو**
**له ځانه ورک یمه د ځان مي کړه یواځي یمه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



له عقله کم نه دي غمونو دي سپږلي خلک
له کم نصیبه په اورو نه دي داغلي خلک

د جوړیدو امید یې وي خو ځکه ژوند تېروي
د هجر اور چې پر لمبو دي کړولي خلک

تر اوسه ګرځي بې اسرې فکر یې وه نه کړو چا
آه وچغار کوي له ویره دردیدلي خلک

ورځ په محشر به دي تر غاړه رب قهار و نیسي
تا ډیر په جبر بې قصوره ژړولي خلک

د هغو نوم او ناره دواړه پر دنیا ژوندي دي
تاچې د ظلم په دار کله خپژولي خلک

چې د واکمنو مخ ته وکړي په رښتیا خبره
عزیږه! شتون لري نېستی نه دي ښاغلي خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ارمانونو مي په زړه کي زلزله جوړه شوه
په هیله هیله مي له ژونده تماشه جوړه شوه

خالقه خدایه داسي وخت پر غریبانو راغلي
د ځوځنانو یې په ژوند باندي مېله جوړه شوه

چي نیت صفا وي تر ړنده سترګه هم اوښکه راځي
له پندو لارو د وتلو دروازه جوړه شوه

دغه احسان د هېرو نه دی چي پر ما یې کړي
له دوو چشمانو مې د ژوند ټوله کیسه جوړه شوه

غرض دي نور وو ټول جهان ته لکه لمر ښکاره وؤ
دا څو کسان دي د راتګ هسي پلمه جوړه شوه

پخوا خو یو **عزیز** ویاند وؤ په دې ټول کلی کي
سوکه سوکه خلګ راټول شو قافله جوړه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغه زړه به له پیلتونه خامخا چوړوم
له مودو تللی مرور جانان به پیدا چوړوم

په دې ظالمه زمانه کې زندګي ګرانه شوه
له خلګو لرې یوه جونګړه پر صحرا چوړوم

راته معلوم شوې اې مختوره د رقیب په خوله وې
هسې دروغ وؤ تا وئیل چې ها او دا چوړوم

چې حسن زیات وي د حسینو قدر هم پکښې وي
مزدور لالي له د خوبو بله دنیا چوړوم

که څه هم زه عزیز په خاورو کې ژوندون تېروم
تاله محل د زړه په کور کې دِلرُبا چوړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور خو زاوال دی ساه تنګي ده او ستومانه ژوند دی
ژوند چې جانان دی خو تر تا پوري جانانه ژوند دی

نور د هوس دنیا او خوَښي له ما ټولي پاته
دا چې تر اوسه یې لا ژغورمه له خانه ژوند دی

د بلاګانو، ځناورو نه خوندي دی خلګو
دلته که خوَږ دی که بدرنګه له انسانه ژوند دی

چیري چې نشته رنګین خیال، او شعور وده کړې
هلته هوسا دی هم هَلَته په اسانه ژوند دی

د ظالمانو په نړۍ کې د ظلمت کلي کي
زه یې نیولی، ما نیولی له ګرېوانه ژوند دی

نور درته څه و وایم څه دی نازنین دی که نه
سترګي دي ژوند، بانه دي ژوند چوڼ دي خندانه ژوند دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صفا مخ دي زندګي اوس راته ګرانه ښکاري
د روڼ سبا طمعه دي ماله را ویرانه ښکاري

شوم لیوني پس اوس په دښتو شاړو شپې تېروم
مړ به مې هم کړې علامې داسې جانانه ښکاري

یو ورځ به راوړې افتونه د دې ښار پر لوري
څه اثرات دي لا اوس هم راته طوفانه ښکاري

ځوانان لیږې او دی په خپله پرنغري پاتیږي
دا مې یقین دی او دغسې له فرمانه ښکاري

باید چې یو شو د نفاق اورونه مړه کړو زیاته
کنې **عزیزه**! بېقدري مو راروانه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښايستو ستر ګو جانان مرور
نن راته ځمكه هم اسمان مرور

له تازه ډكي پيچ خونكاري ستر ګي
هم ښكار كوتكي باڼو ګان مرور

د دومره ظلم وس دي نه لرم زه
په دې له تا نه شي سبحان مرور

د سترګي ژوند به درته څه وو وايم
د زړه له كوره مي ارمان مرور

ځكه مي اوښكي تر دوو ستر ګو راځي
د زړه قرار شاهِ خوبان مرور

عزيز دي بيا صفت نيمګړى وكړو
هم مي قلم هم مي بيان مرور

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې دي تیرېږي د هجران په سایه
چې رقیب ګرځي د جانان په سایه

د دنیاګۍ تصویره څنګه جوړ شوې
درکي ئن دېر ګرځي د ځان په سایه

جانان جدا مي شو له څنګه څخه
ده زندګي مي د زندان په سایه

په بخت مي و نیوی د کاغو اواز
جواب یې راغلی د ارمان په سایه

خلک د یار په څنګ کي شپې تېروي
عزیز د شعر شومه روان په سایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وخت به راشي نن مې هیله په زړګي کې راله
ستا د وصال تنده جانانه په مستي کې راله

په ژړا سر وه په سلګۍ وه فریادونه یې کړل
د وخت مستوره په لښ سر په تاوسي کې راله

له کاڼي کلک زړه مې نري شو له هجرانه ښځه
اوښکه له سترګو د جانان په جدايي کې راله

په محفلو کې راله نه راتله خندا پر شونډو
نن یم حېران ښڅکه هغه په تنهايي کې راله

عزیزه! چا چې به له ډېره کِبره نه راکتل
نن ورته ګوره چې په سوال او په زاري کې راله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر خوار زړګي مي ارمانونه د جانان پاته دي
د ژوندون شپې مي په تیاره کي د هجران پاته دي

د وخت په ظلم فنا نشو نه یې ماتې ورکړه
په دغه کلی کي اوس هم څو اتلان پاته دي

چي شپه او ورځ اوښکي تری څاڅي د جانان په غم کي
په اوښکو هم نه شو ړانده روغ مي چشمان پاته دي

ډېر ارمانونه قتل کیږي هره ورځ خالقه!
ستا په دنیا کي ختم نه دي ظالمان پاته دي

د وخت په دوړو فنا شوي عزیز مه هېروه
پکي دلبره څو خویونه د انسان پاته دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لکه چې زه او ته پخلا یو، ولې داسې یمه؟**
**هغسې پیا سره همراه یو، ولې داسې یمه؟**

**ډېره موده شوې ضدې زړه مې پېلتون ته منې**
**لکه ملګرې د پخوا یو، ولې داسې یمه؟**

**ده رامالومه چې هغسې مینه پاتته نه ده**
**لکه یو بل ته په دعا یو، ولې داسې یمه؟**

**په ډک محفل کې راته ولې بل څوک نه وې ښکاره؟**
**لکه چې زه او ته تنها یو، ولې داسې یمه؟**

**ته مې عزیز یې او زه ستا یمه تر مرګه پورې**
**لکه په زړو کې سره وایو، ولې داسې یمه؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم مي قولونه ستا په ياد دي هم مي كار په ياد دى
ستا مي ترخې خبرې يادې دي هم جار په ياد دى

زما تر غوږو خو لا زګېروى او لا ژړا وي مدام
تاته اواز د شپېلۍ ياد دى لا سِتار په ياد دى

اوس د لوياڼو په رضا يې او هر څه يې منې
وه دروغجنه تا خو وپل چې زما خوار په ياد دى

چې پر ما وخت وو د سختۍ دا مي ليدلې ټوله
هم مي مُلا د كلي ياد دى هم سردار په ياد دى

وه ښايستې محبوبې تا خو مي څهره هېره كړه
زما دي تر اوسه د ښنګړيو شرنګهار په ياد دى

خلكو وئيلو چې دنيا پر بله خوا روانه
د لېونې عزيز تر اوسه لا خپل يار په ياد دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته قبول نه دي په هيڅ چي دي هرڅه وتاته
وخت راتږدې دی چي در وا به ړوم خوله وتاته

ته خو يې نه منې چي زه دي کړم په غشو زخمي
خو پر خپل ځان دي ګواهان دا خپل باڼه وتاته

سوال د يوې پوسې کومه دومره ګران هم نه دی
خو وخت څه داسي دی کوم يې په نه زړه وتاته

د وخت غاصبه بيا به ته کډه په شا ګرځوې
که سره ټول په کومه ورځ شو پښتانه وتاته

چي دي زما د مرګ د پاره کړو تيار غليمه
هسي نه اړ شي په دې دار باندي خاته وتاته

**عزيزه**! زړه مي يې ژوندون مي يې جانان مي ته يې
ځکه خو غاړه ږوم تر دپواله وتاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خړه پړه او ویرانه پاته
زموږ کوڅه ده بې جانانه پاته

اتلان هر وخت وي د تنګ پر ډګر
بې مخې تل وي له میدانه پاته

په څه اشرف دمخلوقاتو خدایه؟
دلته کوم شر دی له انسانه پاته؟

په هره خوا دي ظالمان کښوي
کومه ټوټه دې کړم ګریوانه پاته؟

بېسیوادې وي ضعیفې د ملت
ځکه سیالې در نه افغانه پاته

عزیزه! ډېر وینم ایمان یې نصیب
ډېر په دې ښار کې بې ایمانه پاته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بدلون عزیزاحمد عزیز

سوکه سوکه د زړګي چيغه تر زبانه رسي
صبر تمام شو اوس مي لاس ستا تر ګریوانه رسي

تا اُمید نه یمه په هیله زندګي تېروم
دغه فریاد به لا یو وخت کي تر جانانه رسي

ځکه يې غواړمه نه خپله نه د بل د پاره
دا سلسله دي د ښېګړي تر احسانه رسي

د وخت فرعون چي يې د ظلم زولنو کي ساتي
دا هغه خلګ دي چي آه يې تر آسمانه رسي

عزیزه! ځه په هغه مینه پښتانه خبروَؤ
چي له امینَ* تر امان* او خوشحال خانه رسي

*حفیظ الله امین او غازي میر امان الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جذبې ویدې شولې افکار ویده شو**
**ډېر اتلان ویښ په دار ویده شو**

**چې یې وَیل مونږ ته بیداره اوسئ**
**اوس په خبرو د اغیار ویده شو**

**په لوږه، تنده غریب شپه تېره کړه**
**په پیغمۍ باندې سالار ویده شو**

**په ژوند یې نه شولو د خٹنګ ملګری**
**نن د محبوبې پر مزار ویده شو**

**خدایه دا شپه که د وصال اوږده شي**
**پر زنګانه مي شیرین یار ویده شو**

**دلته عزیزه! له چا وکړو ګیله**
**چې دښمن ویښ شولو غمخوار ویده شو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په چیغو ویښ نه شو اکثر ویده دی
له هره غمه بې خبر ویده دی

څوک انتظار کې د خیام ځنګیږي
څوک بیا په هیله د کوثر ویده دی

نورو ته هر څه ور رسیږي په ژوند
خو یو پښتون دی چې نهر ویده دی

خدایه سهار نه کړې جدا به شو موړ
په پسته غیږ کې مې دلبر ویده دی

دلته تیارې دي او تیارې به اوسي
تر څو عزیزه! چې بشر ویده دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښڅګرو شرنګ وو د توبو پر کلي
زه چې راتلمه پر سپېدو پر کلي

چې یو د بل له غمه نه وي خبر
دا به پېغور وي د پښتو پر کلي

چې د رڼا صفت و بل ته کوي
پېښې تیاره وي د هغو پر کلي

اوس په تنکۍ ځوانۍ کې ګډه شوله
اوس یې مستي ده د ښو پر کلي

اوس هغه کلی هدیره ښکارېدو
د سلګو ږغ وو د شملو پر کلي

هغه د بل په غېږ کې شپې تېروي
عزیز لا ګرځم د وعدو پر کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تا تر مرګي د تړون کړې وه وعده پرته ده**
**هغه ستا لیک مي ایښی هغه کتابچه پرته ده**

**په ګرځنده کي راسره دی ستا لیکلی پیغام**
**له تللو پس دي هم له ما سره تحفه پرته ده**

**هسي پر نه څه مرور دی چي مودې و وتې**
**نه څه توی شوي نه څه شوي نه کیسه پرته ده**

**خاناتو مځکه او اسمان دي سره څومره لیري**
**زَموږ او ستاسو تر میان دومره فاصله پرته ده**

**بیا د طالب په پردي بم ټوټې شهید ټولوم**
**هلته یې لاس دلته یې پښه هلته سینه پرته ده**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

ستر ګو کي ګیلې لري که څه وایي
و ګوری هغه کاږه واږه وایي

دا کلی پخوا د ښایستونو وو
څومره په ارمان ستړی شپانه وایي

ماته به دي ږغ کاوو د تنګ پر ځای
سترګي لا اوس هم مښي ویده وایي

خپله خوله کلا ده هم بلا خلګو
نه یم په خیر خو پښتانه وایي

زه عزیز له ژونده ځکه ستړی یم
دلته پس له مرګه چاته ښه وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

**سوکه سوکه په چل او ول ګډه شوه**
**بلا په کلي د اتل ګډه شوه**

**پخه ماښې دي هم بقا نه لري**
**که د غریب سړي کوډل ګډه شوه**

**په دغه چل باندې و نه پوهیدم**
**سره را ګډ یې کړو اوربل ګډه شوه**

**د روڼ سبا په هیله هیله ګوري**
**له حیا ډکه په ځنګل ګډه شوه**

**د سولې خلک چنګ ته وه هڅوي**
**ګورئ غوغا مې په کابل ګډه شوه**

**عزیزه! چیغه د غریب د خولې وه**
**پاس له آسمانه په محل ګډه شوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خندا کلي کې خفه پرته وه
نن یې په سترګو کې کیسه پرته وه

تش د ښکلا د پاره نه دي سترګې
زما د مرګ پکې پلمه پرته وه

چې د مظلوم په وینو سرې وې همېش
نن پر هغو شونډو توبه پرته وه

پر وخت بې وخته شوې ملا صاحبه
سهار لا نه وو ټوله شپه پرته وه

د تقوا غوټه دې بې ځایه پولم
پرون د خان پر دروازه پرته وه

عزیزه! دلته رڼا نه اوسیده
ځکه په هر کور کې نېزه پرته وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انتظار انتظار شپه تپره شوه
خواره قسمته په اسره تپره شوه

په مينه مينه په غوځي کي راغله
مستته محبوبه تر توبه تپره شوه

بس د وصال ته به ييې خوند اخلمه
اوس د غمونو سلسله تپره شوه

مورږ خو ييې سر او کال په خوله گرځوو
ستاسو پر کلي خو روژه تپره شوه

بيا به دي جبر پر زوال مخه شي
که پر دا سيمه تاريکه تپره شوه

له خلکو پټ چي مي جانان وؤ **عزيز**
لاړه اوس هغه زمانه تپره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې خبر نه یو قیامت دی که دنیا کې اوسو
پر داسې سیمه چې ځوک نه وایي رښتیا کې اوسو

ږغانده ژبه مو ګونګې کړه د حالاتو ستم
په سترګو وینو خو ملګرو ناپینا کې اوسو

چانه مجبور یو کنې دلته راته ګران دی ژوندون
کلی مو اور دی سرې لمبې دي چې بې تا کې اوسو

آسمانه ستړي یو بس نور راباندې مه قهرېږه
موږ په کیږدۍ کې بې همدرده په صحرا کې اوسو

د هغه کلي اتلان مو په دار و ځړېدل
په ځوریدلې دردیدلې پښتونخوا کې اوسو

تر څو به زمونږ د ارمانونو جنازې رالیږې
عزیزه! ځوپوري به ستړي پېنوا کې اوسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　عزیزاحمد عزیز

قسمت مي ټن ویښ شو په ځان خبر شو
د زړه په ځړیکو مي جانان خبر شو

د تکبُر ماڼۍ یې و لړزېده
په سوګي چیغه مي اسمان خبرشو

نور دي په سپینو جامو نه تېروزي
دلته هر کَس ستا په ایمان خبر شو

ستا د ستِم زما د قلم له وجي
د زړه په مینه رقیبان خبر شو

عزیږه! ځکه مو کورونه وران دي
ښاریان یې ټټکه دی جهان خبر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لندو سترګو مي پروا نه کوي
جانان جفا کوي وفا نه کوي

چي ټول مالت يې کړو را لوټي لوټي
هغه وَيل داسي به بيا نه کوي

په ها او دا مي خطاباسي همېش
روییار کیسه صفا صفا نه کوي

لا خو يې و پالي د ځان په رنګه
لا څوک د چا د زړګي غلا نه کوي

چي ماته څه وايي هغه به کوي
مُلا به کار له دي سيوا نه کوي

عزيز په نور پر ځنګانه ویده ووم
هغې وَيل خوب دي تنها نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون                                                                  عزیزاحمد عزیز

نن مې بیا له اوښکو ډک دي چشمان دواړه
څنګ پر څنګ چې وو رقیب او جانان دواړه

دا ده مینه که جنون دی نه پوهیږم
ځوروي مې ستا وِصال او هجران دواړه

نور پر هر څه مخالف دي یو له بله
خوما وژني پېګانه او خپلوان دواړه

د ایمان شمعه دي مړه وه ځکه ولاړې
چې دي پرېښودل سنګر او میدان دواړه

نن و راشه مقبرې ته که یې ګورې
خړې خاورې شو **عزیز** او ارمان دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دې تش یاد وي راسره اباد یم
بس زندګي وي شایسته اباد یم

ته خو مې لوری د کور بد ایسوې
زه چې دې وینم کوڅه اباد یم

دوی په مستۍ کې په زوال بې خبر
وایې پر څه کاږم توبه اباد یم

مونږ دغه فکر له دنیا جلا کړو
چې که وي توره یا تېزه اباد یم

ته که یې هرڅو ماتېده و غواړې
عزیز به داسې همېشه اباد یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا له څُماره ډکي سترګي کاري وار به کوي
چي داسي نه کوي ته وایه چي څه کار به کوي

د غلامۍ او جهالت دي چاپېرچل کي خلګو
څوک لېوني شته چي خبره د اختیار به کوي؟

د قام تقسیم مو د دې لوئی تباهۍ لامل دی
دا چي هر څوک کوي په خوښه د اغیار به کوي

ځکه مې و غوښته بوسه ترې باوري ومه زه
دا ګُمان کي لاهم نه وؤ چي انکار به کوي

دلته په بیا بیا ثنواتې شکلي نه څپلېړي
دغه خوارۍ که څوک کوي نو اپله زیار به کوي

هغه پوهیږي راته اړ دی ماښی ځکه کوي
که ورته وَ وایم عزیزه! را چار به کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نظر غشئ مي تر زړه ووتی**
**چي سَوئ ږغ تر ماته خوله ووتی**

**اوس په يوه کار باندي نه شرميږي**
**ولاړی هغه تر سرَه و شته ووتی**

**پيا به يې ټوله دنيا نه کړي راتم**
**که تر دا سيمه پښتنه ووتی**

**اکثره ګير شولو هر چا ليدلي**
**دا يو پر بله دروازه ووتی**

**عزيزه! څوک چي وو د تاج حقداره**
**په لځو پښو زمونږ تر کوڅه ووتی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

**د زړه په میان کې مې اغزی پاته شو**
**رقیب چې و لیدو موسکی پاته شو**

**زه خو پر نه خبره نه سړی شوم**
**هغه هر څه کول سړی پاته شو**

**چې مې ژوندون غوښتو هغه ته کېدو**
**چې مې مرګی غوښتو مرګی پاته شو**

**ستا د یزید ظلم په خاورو ګډ شو**
**نوم حُسیني مې ګړندی پاته شو**

**ستا وښایست ته یې چې ډېر وکتل**
**دا ستا عزیز ګوره ګونګی پاته شو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

دلته پُرسد هم لیونی خبر دی
ستا په پلمو اوس هر سړی خبر دی

ستا په یاري کې مې اوس دغه حال دی
په ما د کلي هر کوچنی خبر دی

زموږ پر دغو تړپدلو کورو
باندي اوس نه راځي پسرلی خبر دی

نور به دي څه رنګه جانانه ستایيي
ستا په ښکلا خو مې زړګی خبر دی

خانه پس اوس دي پر خانۍ وېرېږه
په ښه او بد مو هر ځلمی خبر دی

عزیزه! هلته کله کله ورشي
په موږ خو هره ورځ مرګی خبر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثن یې دردونه پر پرهار ویده شو
پس له عمرونو په قرار ویده شو

د څو بدمخو د وفا په هیله
په توره شپه کې مو سهار ویده شو

هغه لا څوک وو چې له وهمه ورک شو
هغه وو څوک چې پر انکار ویده شو

دلته به امن، امن، امن غواړو
دغه خبر یې کړه تکرار ویده شو

دا ته چې ثن پولې د ویاړ خاوندان
راته معلوم پر کومه لار ویده شو

مُلا په ورځ کې زما د حق غاصب دی
په شپه یې چوف کړ استغفار ویده شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عزیزه! هغه خلک مه هېروه**
**چې بې ګناه پر سر د دار ویده شو**

## څلور شعرونه

**ډېر راته ګران دي راسره دي د ګرانې خطونه**
**راله رایاد کړي پخوا وخت ستا پخوانې خطونه**

**کله په ناز کله ماښی او کله درد وؤ پکښې**
**زه لېونی، وخت لېونی، ستا لېونې خطونه**

**اوس لا هم ژوند راکوي اوس هم حوصله راکوي**
**ستا د ښکلا،ستا دښایست، ستا د ځوانې خطونه**

**زه چې یې لولم ورته خاندم او په سترګو یې ږدم**
**ستا د اقرار،ستا د انکار، ستا د ورانې خطونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاړ شي د پل په خوله روان شي ما یوائځي پرېږدي**
**څوک چې هم د ډېر راباندې ګران شي ما یوائځي پرېږدي**

**د څڼګ ملګري وي په چار چار راته ټول ړغیږي**
**خو چې بیا وخت د امتحان شي ما یوائځي پرېږدي**

**ما چې د کوم ظالم پر ضد ورته قربان کړی وي**
**یار تر هغه ظالم قربان شي ما یوائځي پرېږدي**

**عجبه ده چې څوک مې خپل وي او هر څه تر چار کړم**
**هغه د پل سړي جانان شي ما یوائځي پرېږدي**

**خوب مې لیدلی که رښتیا شو خو زهره مې چوي**
**یاران مې ټول سره یاران شي ما یوائځي پرېږدي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوره مو نه کیږي بس ورانه شه ده
چې جدایي شوله جانانه شه ده

هسې یو ورځ راته غضب جوړېدې
چې پوره نه شولې ارمانه شه ده

شه شو چې را دې کړی په خپله جواب
شه شو چې نه شوم بې زیانه شه ده

شوه مې جونګړه د سیلاب په مخه
دغه دې شه وکړو اسمانه شه ده

تا به هر وخت وَیل رښتیا حالونه
چې شوې ټوټې ټوټې ګرېوانه شه ده

نن پر دغه خبره ګډ وو سره
عزیز چې ولاړ شې زموږ له میانه شه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه په څړیکو کې مې اوسې پر ما ګران دی هغه
قربان قربان یې شم له سترګو نه چانان دی هغه

څوک چې په درد باندې خبر وي د چا آه پیژني
انسانان ټول دي مګر زما په خیال انسان دی هغه

پروند یې داسې راته وه ویل سبا به درځم
نن ورته ګوره پر هغه قول پښیمان دی هغه

دلته چې څومره لوی ظالم وي نو هغه هوسا وي
دلته چې څومره وي مظلوم ستړی ستومان دی هغه

خدایه چې ستړي پښتانه په وینو و لمبېدل
مځکه هم نه شوله ټوټې ټوټې، اسمان دی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

مرګ ته نژدې یم خو تر اوسه پوري مړی نه یم
ده دید په جام دي ګرانه یاره اوبه کړی نه یم

زما و غاړي ته خو پړي خلګو ډېر جوړ کړي
خو زه پخپله د هیچا د غاړي پړی نه یم

که خداي کول بیرته راځم بیرته به ته ظهیر یې
چي بیرته رانشم زه داسي سیلاب وړی نه یم

کلونه وشو چي پیلتون دي په خندا تېروم
تر دې کسب چار شم تر اوسه پکي ستړی نه یم

**عزیز** د زړه او وجود ټول اختیار چي چا ته ورکړو
هغه جانان وایي چي زه ستا پوروړی نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره مي باړ شي يوه خوا نه کيږي
راشه چي يو ځای شو بالا نه کيږي

خلکو وئيل چي جانان نه هېرېږي
نه مي مثل دا دی رښتيا نه کيږي

اوس خلک لاره و آسمان ته باسي
زياتې کاروونه په مُلا نه کيږي

دا ته چي وايې ما به نه يادوې
واوره صفا وايم صفا نه کيږي

پر رنگ مي پېژني هر څوک مئين يم
د شنو چيچنه ده په غلا نه کيږي

چيري چي مينه او مئين ياديږي
څنگه به ذکر زما او ستا نه کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښه شو چې خبر شوم له نظره ستا**
**هیله به مې وه خیږې له دره ستا**

**ما باندې خو دلته خلکو ولیدې**
**نور انتظار نه کوم محشره ستا**

**ته خو سر تر پایه د صفت وړ یې**
**کومه ادا و ستایم دلبره ستا**

**ماته کابل جان، کوټه جنت ښکارې**
**چار له کندهار او پیښوره ستا**

**مونږ ته خو بس غم په برخه شوی دی**
**ځکه لارې نه څارو اختره ستا**

**ورځ د پلټانه په دغه تپره کړم**
**لاړ شم پیرته راشم تر ګودره ستا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خداي که راله وس او حوصله راکړه
غاړه به دي مروړم زوروره ستا

ځکه خو **عزیز** لا زندګي کوم
یاد وي راسره د زړګي سره ستا

## دوه شعرونه

نن مي د خپل زړه خلاف داسي فیصله کړې ده
ما د هغه جانان له میني نه توبه کړې ده

دا پکي شرط دی چي لیږئ به مي د یار کلي ته
*بیا تبلیغانو ما د یو کال اراده کړې ده

*زما د یو کال اراده ده
که تبلیغیان مي د یار کلي ته لیږینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه کښې خو مې ته يې او ستا سترګي دي
ياره ښايستې دي رښتيا سترګي دي

زه دي په اېرې اېرې کړم ياره چې
سرې لمبې اوروته که دا سترګي دي

ماته وايې هيڅ حال به ته نه وايې
زه يې څنګه پټ کړمه زما سترګي دي

ته مې نور دې ستړي ژوند ته وګوره
اوښکي دي بهيږي او دا سترګي دي

يه شيريني څوک دي رانه و نه خوري
ويښم دلته ډيري ښلا سترګي دي

ځکه خو **عزيز** درپسي ژاړمه
توري دي خوږې دي والله سترګي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې په غزل کې مې ستايلې دې خو ته يې هغه**
**زوی مړې! ځان چې مې بللې دې خو ته يې هغه**

**ويل يې لاس چې مې سره کړي دي خو ستا د پاره**
**ما چې اختر چاته لمانځلی دی خو ته يې هغه**

**چې مې وجود کې ساه غړيږي خو هم ستا له وجې**
**چې ښايسته پرې دغه کلی دی خو ته يې هغه**

**زه خپله خپل ځان سره جنګ کوم پرې نه پوهيږم**
**په ما که لږ هم پوهېدلی دی خو ته يې هغه**

**ته ماته ښکته آزادي ښايې د ځان لاس پوښې**
**هغه چې غپ ته يې ساتلی دی خو ته يې هغه**

**هغې نجلۍ ويل چې بل راباندي ورور عزیزه!**
**چې مې خپل ځان لره منلی دی خو ته يې هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر يې تېر شو خندا نه پېژني
دا خواران خلک سبا نه پېژني

د هغو خلکو واک اختيار دی دلته
څوک چې روا، ناروا نه پېژني

هم يې پر لاس هم يې پر پښو پرپوزي
دا سادګان لا مُلا نه پېژني

پروند يې خپل ومه پر څنګ ورسره
ئن مې مختوره اشنا نه پېژني

دې ظالمانو رانه هر څه وړي
پېغلي ګودر او ګڅا نه پېژني

قسم په خدای درسره مینه کوي
عزيز ساده دی ريا نه پېژني

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر مې ستا په پښتنو سترګو کې
بلا مزې دي په دې دوو سترګو کې

څومري حيا او رنګيني پرته ده
ستا مهذبو ښايستو سترګو کې

خلګو له ما نه په ګيلې نه کوئ
ورک لېونی شوم لېونو سترګو کې

ځکه خو نه اوړي نظر له تا نه
مينه دې ډېره ده په مړو سترګو کې

عزيز چې داسې له دنيا چلا يم
فکر مې اړ دی په هغو سترګو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

**هم دي په ورځ هم دي په شپه يادوم**
**جانانه تا به همېشه يادوم**

**په دغه عمر کې واعظ را ښايي**
**دا سرخوږلې دا توبه يادوم**

**که ډېر عمرونه ګرانه ياره تېر شي**
**زه به دي مينه پښتنه يادوم**

**زمونږ په وينه باندي خان وهلې**
**دا شيش محل دغه ښکله يادوم**

**دا چې کعبه کعبه مې خيژي له خولې**
**د خپل شيرين جانان کوڅه يادوم**

**ستا خړي پړي نازولې سترګي**
**هم په غزل هم په ټپه يادوم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سره دواړه په خندا اوسیدو
هغه محفل هغه لهظه یادوم

## څلور شعرونه

نه په ماښې راسره وې نه راپخلا دی جانان
نه راته وایې چې د بل یم نه زما دی جانان

کله په ناز مخ رانه واړوي ګناه خو نه ده
په قصده نه کوي ملګرو لا پروا دی جانان

د عقاب سترګې،لمرین مخ او دنګه ونه چنار
دا نښانې لري له خلګو چې جلا دی جانان

د **عزیز** زړه دی د **عزیز** د سترګو تور دی هغه
د **عزیز** ځان دی د **عزیز** د پاره سا دی جانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

مينه کوم مينه په وار وار کوم
دغه مي روزګار دی دغه کار کوم

ښه خبر يم ښکلي دي دروغ وايي
ييا هم چي وايي څه پرې اعتبار کوم

څوک چي د وطن په مينه سر ورکړي
زه په داسي خلګو افتخار کوم

خدايه څنګه خوب دی څنګه خلک دي
نه اوري ناري وهم چغار کوم

ياره د راتلو نېټه راوښيه
ډيري مودې وشوې انتظار کوم

دا مي د ناروغ لالي د رنځ دوا
ځکه په ښکرېيو ښرنګهار کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون                                    عزیزاحمد عزیز

**دومره راته ګران دی تازولی دی**
**زه ورته پر هره خبر چار کوم**

**کلي ته خبره شوم عزیز راځي**
**ځکه خو په نیمه شپه سینګار کوم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ شم و هینداري ته ارمان پر څېره و وینم
زه چي ستومانۍ د خپل جانان پر څېره و وینم

ناست یم شپګیرې وي له یادونو سره لوبي وي
کله چي روڼ ستوري د اسمان پر څېره و وینم

وژاړم بې خوده شم یو داسي کیفیت مي وي
زه چي روڼې اوښکي د انسان پر څېره و وینم

خدایه دې ته څنګه مساوات او روڼا و وایم
هر وخت خړي خاوري د ستومان پر څېره و وینم

زړه نا زړه مزل دي له کلو پر له ترلي یو
بیا یه یو څو نخښي د ګمان پر څېره و وینم

خوب وینم **عزیز** هغه تجلۍ کلي ته بیا راشي
تور داغونه بیا د هغ شیطان پر څېره و وینم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغې کوڅې چې کله پر ما راشي
معطر خیالونه راوړي هوا راشي

تصور کې چې دې جوړ تصویر ته ګورم
کله و خاندم او کله ژړا راشي

زړه ته ډاډ او تسلي ورکوم داسي
بیا به کلي ته هغه دلربا راشي

مُلا جان خو په غوړ لاس کښېږدي او لاړ شي
چې خېره چیري هم د رښتیا راشي

څه عجب غوندي رنګونه سره ګډ شي
چې زلفان دې د څپرې پر رڼا راشي

ټن هغې وئیل عزیز رښتیا مئین دی
تر غوږو مې د مئین زړه درزا راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درې شعرونه

دا خوبولي سترګې ښې بیا په مزو اړوي
ښیت یې دی کړی خامخا مې تر توبو اړوي

بېګا یې هم په دغه لاس باندي جامونه نوش کړل
اوس ورته ګوره هغه ګوتې پر تسبو اړوي

و چالاکۍ ته یې والله ګوته په غاښ پاته شوم
خپله راوړی جنګ هغه پر پښتنو اړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خیاله نه وځي که هر څومره له ښاره وځي
زړه کي دېره دی چیري اوس له دې مداره وځي

دا څنګه ته یې چي په شپه مي خوب ته هم نه پرېږدې
دا عجب یاد دي دی په ورځ سږی له کاره وځي

که درته و وایم خفه نه شې جانان مي ته یې
کنې په ښار کي ښکلي دومره دي له شماره وځي

په شپه کي راشي سجدې کوي دخان پر درګاه
سهار مُلا شي د جمات او له درباره وځي

هغه مي کړې ده جانانه خلک نه خبروم
شیطاني اوښکي مي له سترګو بې اختیاره وځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

**ما له خو دي اوس ژندګي ګرانه کړه**
**تا چې اې اشنا راسره ورانه کړه**

**دا چې نه راګوري نه خندا کوي**
**چا زما په مينه بدګمانه کړه؟**

**هغو ته تاچونه ورپه سر کړو دوئ**
**چا چې مې د قام وينه ارزانه کړه**

**بيا دي د ديدار په هيله درغلم**
**بيا مې ځولۍ ډکه له ارمانه کړه**

**نن خو يقين راکړه چې ضرور درځم**
**نن خو خبر خلاسه له امکانه کړه**

**ولې دي د ست چامونه تش شولو**
**ولې دي جفا راته پرېمانه کړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



منم منم دا حقیقت دی تر جهان مي خوښ دی
زه ګناه کار خو په دې نه یمه جانان مي خوښ دی

و دې غریب اولس ته لار د انقلاب ور ښایي
دا قهریدلي په غضب اخته اسمان مي خوښ دی

د هر بدمخي لاري نه ګورم عادت مي جوړ دي
چي وي پر ننګ باندي میئن هغه انسان مي خوښ دی

زما و ژبه ته یې مینه او ښکلا ورکړې
درویش* مي هم د زړګي سر دی او کاروان* مي خوښ دی

نه مي تر اوسه له مُلا سره حضرت وئیلي
نه مي تر اوسه دا وئیلي دي چي خان مي خوښ دی

*درویش درانی
*پیر محمد کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلور شعرونه

ښکه لیونۍ ده راته ښه ایسي
پېغله غرڅنۍ ده راته ښه ایسي

ځکه ورته داسي حق حیران یمه
نخښه ده نجلۍ ده راته ښه ایسي

ګراني بې تا ګل او ګلزار څه کوم
ستا د چَم سیلۍ ده راته ښه ایسي

زه چي په ګناه د قامولۍ کي مرم
دار دی که زېندۍ ده راته ښه ایسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په يېي اورمه درمانه وایه
څه دي پر زړه دي پر ما ګرانه وایه

نن دي له رنګ نه ښکلا کډه کړې
شیریني چا کړلې ستومانه وایه؟

تا خو د نه راتلو قسم کړی وو
څنګه در یاد شومه جانانه وایه

هسې دي زه کړم د جهان تهمتي
په ځان دي څه جوړ کړو ارمانه وایه

ولې ګونګی شولې په سخته ورځ کې
دا مې تپوس دی قهرمانه وایه

ما ته د بل زده کړې مه را ښایه
که دي څه زده دي نو له ځانه وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې وئیل **عزیزه!** یې ناچوړه
که دې رنګ ژړ دې له خفګانه وایه

## کابل جان ته

والله په ژوند و پوهېدم کابله!
ستا پر کوڅو چې ګرځېدم کابله!

چې دلته وم نو یو ژوندی سړی وم
ساه مې شوه بنده چې راتلم کابله!

چې بیا به راشم او که نه خو واوره
تا به تر مرګه یادوم کابله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثار دي کوم له ډېره وخته یاره
راشه پر ما تېرېږي سخته یاره

دا هم ژوندی ماته هم ژوند راکوي
ستا د یادونو شیتکی درخته یاره

دا ده ځوانی غرور زوال له پیدا
آخر به کوز شي له دې تخته یاره

پیا خو به و مرورې دا خپل لاسونه
چې راته و دروي سنخته یاره

د کور پر ضد به دي **عزیزه!** خپل کړم
که پېښي نه ومه بد بخته یاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مي قلم او کاغذ یو ځای کړو نن بیا کیسه ده
بیا هغه ته یې ورته غوړ شه چانه ستا کیسه ده

لا مو ساه تنګي ټولنیز ژوند تغیر نه دی کړی
لا مو پر ژبه د ادم او د حوا کیسه ده

ډېر سترګور مو د خاناتو په دربار کي ناست وي
ما اورېدلي چي دروغ دي که رښتیا کیسه ده

لار ورکوای نه شو که دوئ لار اخیسته نه کوي
هسي غزلي سره وایو تر وا وا کیسه ده

دا سوکالي او ابادي په دې غلام وطن کي
دا لا له لویو لویو غرونو نه پنا کیسه ده

رپیاره دومره رڼ جواب او هغه ښکلی چانان
دا د هغه نه ده صفا وایه د چا کیسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

**ډېر راته ګران دی څه ارځان خو نه دی**
**زما ژوندون دی تش ارمان خو نه دی**

**چې په کلو کلو مې حال نه کوې**
**یار چې هر څوک دی مسلمان خو نه دی**

**هغه د خپل قدر لږ قدر کوي**
**هسې بې ځایه مهربان خو نه دی**

**دا چې د بل په وینه نه اوبېږي**
**دا کار د چا دی د انسان خو نه دی**

**بیا نتواتې به وي بیا به ورشم**
**که شي خفه هغه تاوان خو نه دی**

**که یې هر څو رټې له دره ځني**
**عزیز به بیا درځي پښېمان خو نه دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم به يې اړه وي په خوله کې سړی
چې کله ځای جوړ کړي په زړه کې سړی

که لېونتوب کې مې قبول کړي هغه
ما خو دي خدای له سره ته کې سړی

د چا تر دوو سترګو يې قدر کوؤ
نشته يې نور په ګرد *کاله کې سړی

هغه تر ټولو ښکلو، ښکلی جانان
ښکلی يې هېر کړي ښکلی وکي سړی

عزیزه! پاته شي د کور کارونه
چې درته و دري په وره کې سړی

*کاله: په سیمیزه لهجه کې و کهول (خاندان) ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

توري توري شپې دي رڼا نه لرو
ژوند لرو د ژوند مسیحا نه لرو

ځان ته د دروغو دلاسه ورکړو
زغم د جدائي په رښتیا نه لرو

موږ مفاد پرست او حرام خور غندو
کرکه له داهسي ملا نه لرو

زړه لرو ایمان لرو ضمیر لرو
څه دي که دا ډیره دنیا نه لرو

ورک شې چې میدان د ننګ او پت راشي
ځکه باور ستا په وینا نه لرو

ور مي د زړه بند کړو بالا مه راځه
نوره دي د ناستي هوا نه لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



والله چي زه له خلګو بېل يم که جهان بدل دی
هم مي آرزو هم مي مرام هم مي ارمان بدل دی

خدايه د دين نه د دنيا سو دا لاروركئ اولس
هم مي ملا بدل د کلي او هم خان بدل دی

نه هغه رنګ ماځيګري شته نه خندا پر شونډو
چي بې له تا سو په والله اوس مي ګزران بدل دی

له هري خوا باندي مرمۍ د ظالمانو اوري
هغه د ميني کلی اوس په قبرستان بدل دی

اوس د حالاتو په پنجو باندي زخمي زخمي دی
دا ستا عزيز نه دی هغه رنګه انسان بدل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محبت دی د سکون دی د بقا کلی دی
چې پرې مئين يمه ملګرو د اشنا کلی دی

چا راته وېل چې واوره ورېږي کوم مړې کوم
دلته به هيڅ نه راته وايې د مُلا کلی دی

دلته که و ژاړو وچاته او پرچا به ژاړو
دلته لوټلی مشرانو په سلا کلی دی

چې راته ګل وؤ راته ګران وؤ خو هم ستا تر سترګو
چې راته اور دی سرې لمبې دی خو بې تا کلی دی

نه مې پرحال باندې رحمیږي نه مې چغې اوري
څنګه ويده دی دا اوس څنګه ناروا کلی دی

عزيزه! خلک به خبر شي او پېغور به کوي
دا مات بنګړي راسره ټول کړه شاوخوا کلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور مي ستا له میني نه توبه وکړه
نن مي زړه کي دغه فیصله وکړه

زما د زني خال او پارخوګان ستا دي
ووایه! خو خیر دئ مسخره وکړه

بیا که راله نه راتلې پرې پایم به
ته خو د راتګ یوه وعده وکړه

ما دي کتل لارو ته، ته نه راتلې
نن یې په خوږه ژبه ګیله وکړه

دلته به د امن څنډې جګې شي
وخت راسره داسي زمزمه وکړه

زه عزیز په دې باندي خوشحاله یم
نن مي ستا د هجر فاتحه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا راته زړه يوړو او چا راله تاوان کړی دی
د مینې ښار کې مې هم سود کړی هم زیان کړی دی

هغې تجلۍ څه په معصومه انداز داسې ویل
ته خو زما يې تا خو ما سره پیمان کړی دی

زما د کلي مُلا ماته څڼکه لارې ښائې
ته راته و وایه تا کوم کار د انسان کړی دی

زه خو دې هره ورځ په اوښکو یادوم جانانه
و وایه تا راپسې کومه ورځ خفګان کړی دی

**عزیز** په دې باندې ډاډه یم او خوشحاله اوسم
د زړګي سر د محبت راسره قرآن کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مرمرين لباس پوښ شوې ده په خيال به راشي
هغه به هر څه په ځان پوري کړي سنبال به راشي

چې ته به هم راپسې ژاړې زه به هم تنها یم
دامي گمان نه وؤ چې گرانې داسي حال به راشي

مور خو تپر هم په وينو رنگ کړو دا به هم داسي وي
تاسو يې لار څارئ، دی ستاسو نوئ کال به راشي

خير دی که نن مې د دستار سرونه دار له بيايي
دا مې یقين دی وخت به بل وي او په سوال به راشي

بيا به د حق په اذان ويښ کړي دا پېغمه اولس
بيا به ناري کړي پر منمبر هغه بلال به راشي

عزيزه! تل به د هجران ترخه وختونه نه وي
بيا به شو مور غاړه غړۍ شپه د وصال به راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مي محل ته ضرورت نه مي دنیا په کار ده
د وخت تیارو ته مي یو څرک یوه رڼا په کار ده

نه سرخوړلی طبیب پوه شو نه ما حال بیان کړو
د زړه زخمو له مي دا ستا یوه خندا په کار ده

ما ته عبث دی د دروغو نه که ډک وي کتاب
ما ته یوه خبر په کار ده خو صفا په کار ده

زه پرې خوشحال یم خو دا نه چې جنازې ترې پاسم
ماته د امن او د مینې پښتونخوا په کار ده

دا نه د ننګ دي نه د دین زیاتې را پاتې شولو
دې ځنګېدلو ملایانو له دعا په کار ده

عزیزه! دلته د پېوسو د مُسکا د پاره
د دې غټانو په کورو کې لږ ژړا په کار ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چا ورخپل کړم نه يې مرستي ته لاسونه راکړل
قسمته تا راته بلا ډېر تکلیفونه راکړل

په چا چې ناز مې کاوۀ څوک چې مې د څنګ سړی وۀ
نن راته هغه جانان رډ پړ جوابونه راکړل

ځکه دې زه مدام په یاد لرم هیرېږې مې نه
تا راته ګرانې د وفا ډېر قسمونه راکړل

نه دم پیوند کړو، نه يې وس د داروګانو لرم
په داسې وخت کې دې خالقه پرهرونه راکړل

د زړګي تنده به پرې ماته کړې **عزیز** جانانه
هغه چې تله راله يې لاس کې تصویرونه راکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه انساني رضا ته ګوري نه يې زړه خوږېږي**
**د کاڼي زړه لري هغه کاڼی په څه خوږېږي**

**خو ورته و وايه ظالم يې سر دي نه پرېکوي**
**زوی مړې! ولې دي په حق وئيلو خوله خوږېږي**

**دا جنوني جذبې دي اُف يې تر خوله نه راځيږي**
**کنې نو څنګه څوک په دومره وهل نه خوږېږي**

**چې نه شرمېږي په پېغور د سترګو تور نه لري**
**کنې په سترګو کې چې لږ لري اوبه خوږېږي**

**چې څوک مظلوم پر مځکه باندي کړي ناحقه زهير**
**ما اورېدلي په قبرو دننه مړه خوږېږي**

**عزيز د داسي لېوني احساس خاوند دی چانه!**
**هم دي راتګ باندي خوږېږي هم په تله خوږېږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر جابر پر هر يو جبر مي ټاره کړې ده
که مخ ته دار هم وي خبره مي يوه کړې ده

لکه مُلا له حق ويلو له رښتيا خبرو
ما له توبې نه خاص په دغه شان توبه کړې ده

وجود مي اور واخست او زړه مي له چهاته تور شو
ټن راته ورور د ورور د مرګ داسي کيسه کړې ده

بالا مي وس ټشته چي ولاړ دي شم له ځنګه سره
ټور دي پرپرېدم ټوره مي هوډه پښتنه کړې ده

نه پخلا کيږي نه خبري د جهان زغمای شم
د خپل **عزيز** جاتان پر کور مي مرکه کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوند ستو مانه راسره وي د ارمان خبري
خدایه چي څوک به راله راوړي د جانان خبري

واړه دروغ دي چي باور وربانديي هيڅ و نکړئ
د دې مفتیي خبري او د هغه خان خبري

نوردي د کلي هر سړی په کردار ښه خبر دی
نور دي په خوله کې بدیي ښکاري د ایمان خبري

دلته که وائې راته وایه د کاروان په حقله
دلته مي نه خوښیږي ګوره د ښاروان خبري

راشه پخلا شو راشه بیرته به شو غاړه غړی
راشه چي و باسو له میانه د خفګان خبري

ته راته وایه زما **عزیزه**! ستا غزل مي خوښه
هغې وئیل په کار مي نه دي د جهان خبري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ ته مي و نيسه هينداره راغلم
د ستر ګو توره له سينګاره راغلم

ستر ګي مي ستا په ستر ګو نه وليدې
په خالي لاس ستاسو له ښاره راغلم

پيا مي د تنګ تنده شوه پيا به ورځم
څو واره ولاړمه څو واره راغلم

پيا به دي سم د ځان په زور خبر کړم
که چيري يو وار پر قراره راغلم

درپسي خپل کلی وطن مي پرېښود
زما عزيزه! ستا د پاره راغلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مې د کرکه له چا کړې نه نفرت کړی دی
ما په ټول عمر کې ملګرو محبت کړی دی

پرون دې ږغ راته ډېر تند نن خندَرویه ښکارې
شک مې یقین شو چې دې بیا جوړ مصلحت کړی دی

چاچې مې قام او قامولۍ له د زیان پرېکړه کړې
له داسې خلګو مې پېشکه بغاوت کړی دی

نن په ټټاکو پښو ورځمه نن یې چیرې پرپرېدم
نن راته هغې ښایستې د خولګۍ ست کړی دی

ما همېشه ملې دښمن په ګوته کړی وروڼو
ما همېشه ږغ د یووالې پر ملت کړی دی

څوک چې ما وژني څوک چې ما پر دنیا نه خوښوي
زما مُلا د هغو خلګو امامت کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما یتیم ارمان دي خپل کړی او پرې و رحمېدې
درنه قربان پر خپل **عزیز** دي شفقت کړی دی

## ځلور شعرونه

ازادي څه ته وایي دلته تر قفسه ژوندون
څه ده حالاتو بې رخې ده څه بې وسه ژوندون

دوئ چې سر وخوري وائي مړ نه دی شهید شو لالی
خو زما په برخه وي ملګرو تر نفسه ژوندون

باداره! څنګه ځان ځانی دې کړې په مونږ راګډې
تر سو به دلته تېروؤ داسې بې کسه ژوندون

دا پر سکونه ژوند خو وروڼو بزدلان تېروي
سړی خو هغه دی چې واخلي له محبسه ژوندون

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عزیزاحمد عزیز

سترګي يې زور لري چې ما پخلا کړي
ترې مرور شم دوی مې بیا پخلا کړي

هغه قاتل د پښتنو دی واورئ
څوک چې د دې عصر مُلا پخلا کړي

که د پرېدو په لمسون نه تېر وځو
خدای په مو ټول عمر پخلا پخلا کړي

راشه چې خپله مرکه شو سره
نشته هیڅ څوک چې ما و تا پخلا کړي*

هغې وئیل ما دې په اور پخه کړي
خو زما **عزیز** دې خامخا پخلا کړي

*جانانه راشه چې پخلا شو
زما وستا څوک دي چې موږ پخلا کوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون　　　　　　　　　　　　عزیزاحمد عزیز

پر تا مې وړې دې جانانه له مودو خبرې
مه کوه زیاته خو نو مه کوه د تلو خبرې

چې ترې اوږر شم بیا یې هیڅ په خیال کې نه ورځمه
هغه کوې راسره هسې تر لیدو خبرې

نورې عبث دې که یې هر سړی کوې جانانه
خبرې دې که هم خو ستا تر ګائیدو خبرې

بیا خدای خبر څه وخت یو ځای شو نن مې دا و منه
نن به کوؤ سره اشنا تر لمر ختو خبرې

لکه شکرې، لکه قند،لکه د شات خوږې دې
تر ګل نازکې دې پستې دې تر اوبو خبرې

عزیز خو نه غواړم چې څوک هم له تا څه و وایي
تا ته حیران یم چې پر ما دې شي پېرزو خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکته دي وستایم څه چل نه راځي
ژبه مي ګونګه د غزل نه راځي

سر دي قلم شه دا دي ښکنګ و وېل
ولي به سوله پر کابل نه راځي

خیر دی که پوسي دننګ محل د سامراج
خوني سیلاب دي پر کوډل نه راځي

شکر ژوندي خوشحال خاني فکرونه
خوبونه مه وینئ مغل نه راځي

اوس پسرلی شو بې له تا پسرلی
اوس خوشبوياني د سنبل نه راځي

دا تیارخور دي په غضب اخته شي
عزیزه! مرګ دي پر اتل نه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نظمونو برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوس هغه د وېر کلی وو

ملګرو لاړم په اُمید د ګودرو تر کلي
د شملورو ځنګیالیو پښتنو تر کلي
تر هغه کلی چې په تل پکې خندا خوره وه
په هر طرف به د پښتو پت و حیا خوره وه
چې بې له لري خلګ راغلل د دیدن د پاره
د خوشحالۍ په تمنا د دې ګلشن د پاره
چې به یې پېغلې په خندا تلې او خوشحاله به وې
ددې فضا په رنګینیو کې بې حاله به وې
هغه وطن هغسي نه وو اوس د وېر کلی وو
هغه ګلشن په وینو سور وو ډېر زهیر کلی وو
هغه تنکي ځواڼان واړه بې کوره ولو
څه بې باباڅه بې خورکۍ او څه بې موره ولو
په وینو سور وو هغه ښکلی نازولی وطن
په چیغو سر وو په دردونو دردېدلی وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښکلا رنګ د ماشوماتوپه ژړاکي ورک وو
هغه ګلشن اوس د مرمیو په برپښنا کې ورک وو
ډیري د قدر وړ شملې تر خاورو لاندي ولې
د خندا ګانو ډکي خولې تر خاورو لاندي ولې
د هغه کلي خلګ واړه مهاجر له کلي
د بل په هیله وو وتلي در په در له کلي
هغه د ختو په کورو کي اوس څوک نه اوسېدل
په هغه ښکلو منظرو کي اوس څوک نه اوسېدل
هغه د ګلو وطن نه وو اوس د جنګ کلی وو
د ظالمانو بې دردانو په لاس ړنګ کلی وو
د خوشالۍ سندري نه وې د ښکلا وطن کي
پښتون بې قدره وو اوس هم په پښتونخوا وطن کي
د ډېرو خویندو لوپټې د ورور په وینې ولې
د نازنین اولاد په غم مېندي غمجني ولې
هغه د تنګ ظلمیان مي ټول د غم پر کلی پراته
عزیزه! وګوره بې قدره نازولي پراته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون                                    عزیزاحمد عزیز

## چیري چي اوښکي تر ګرېوانه رسي

پر داسي سیمه مي نظر لګیدو
چیري چي کاڼي مو پر سر لګیدو
چیري چي نه پیژني ستړي خلګ
چیري چي وتړي په پړي خلګ
چیري چي اوښکي تر ګرېوانه رسي
چیري چي لوږه تر انسانه رسي
چیري چي ظلم وي تیاره اوسیږي
چیري چي علم پوهه نه اوسیږي
چیري چي حق وي له حقداره لري
چیري چي ګل وي له ګلزاره لري
چیري چي ختمه د ورورۍ جذبه وي
چیري چي زور د ځان ځانۍ جذبه وي
چیري چي بَل وي د نفاق اورونه
چیري چي شَل وي د همت لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیري چي وژني پېقصوره خلک
چیري چي ورک وي له دستوره خلک
چیري چي ولي مسجدونه خلک
چیري چي بايلي ايمانونه خلک
چیري چي و باسي له کوره خلک
چیري چي و شړي په زوره خلک
چیري چي ويني وي دردونه اوسي
چیري چي ظلم وي اورونه اوسي
په داسي حال کي پښتانه اوسيږي
چیري چي نوره دنيا نه اوسيږي
دنيا يوه ده په سلا مو ولي
تاريخ د ګراني پښتونخوا مو ولي

عزيږه! اوس لاهم ويده دی پښتون
د ځان له حاله خبر نه دی پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پووالی دلته نشته

زړه مې شین دی لویه خدایه
څه ناورین دی لویه خدایه
دغه څنګه ژندګي ده؟
هرې خوا ته ځان ځاني ده
پس که سوځو که نهر یو؟
یو له بله تاخیر یو
دنیا ټوله په سلا شوه
هر طرف ته واویلا شوه
چې خاین یمه ترهګر یم
زه ده هرې بدۍ سر یم
زه ظالم یم زه مختور یم
زه د هر ناولي ورور یم
خو اوس هم په خوب ویده یم
لا په هیڅ باندې پوه نه یم
ما په هره ګولۍ ولي
سره ګډ دي ټول ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما سر له تنه پرې شي
زما پر کلي غلبلې شي
قاتل زه یم مقتول زه یم
زهیر زه یم فضول زه یم
زما وینه بې بها ده
تویوې چې یې روا ده
چې هر غم زموږ مېلمه دی
چې وطن مو هدیره دی
چې اوروته دې لمبې دي
چې په هر لور غلبلې دي
بس هم دغه مو ګناه ده
چې یووالی دلته نشته
چې یووالی دلته نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ها د اخلاقو یوه حسینه دنیا

په شپه پېغمه په قرار ویده ووم
د روڼ سبا په انتظار ویده ووم
خو چې راپاسیدم تیاره خوره وه
پر روڼ نظر مې توره شپه خوره وه
یو داسې غږ مې تر غوږو شولو تن
بدن مې ټول په رپېدو شولو تن
وائي جانان دي په ارمان تللئ دی
د زړګي توان دي په ارمان تللئ دی
نور به یې ته پر دنیا نه وویني
بیا به هغه مسیحا نه وویني
اوس تر قیامته هغه نه راکښېني
هغه په دارنګه سفر تللی دی
چیرې چې بیرته ستنېده نه لري
په داسې لاره مسافر تللی دی
زړه مې راډک شو ما ویل یه یاداره!!!!
ولې دي داسې کړو جلا یپواره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بدلون عزیزاحمد عزیز

ټول ارمانونې نیمه خوا پاته شول
یاران یې ټوله پښوا پاته شول
په داسې ګل ځوانۍ رخصت ولې شو؟
داسې باب بند د محبت ولې شو؟
هغه پر ننګ مئین او ستر مبارز
د هر سړي د زړګي سر مبارز
هغه پښتون او هغه نر مبارز
د هر وجود د هر بشر مبارز
ها د اخلاقو یوه حسینه دنیا
هغه د مینې یوه رنګینه دنیا
هغه د خوار اولس د سترګو تور وو
د هر بېوزله او لاچار غمخور وو
د تورو خاورو بندیوان ولې شو؟
داسې جدا رانه جانان ولې شو؟
خو.. خدایه! ستا په فیصلو کې څه کار؟
زمونږ په لنډو او اوږدو کې څه کار؟
ته چې هر څه کوې خو ستا رضا وي
ستا په رضا کې د هر چا رضا وي

ګران ګوندي ملګري شهید اکرم مبارز ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوه ګیله او مدعا

**زما څښتنه زما پاداره!**
**زما لوی پروردګاره!**
**یو وړه غوندې ګیله ده**
**له ګناهو مې توبه ده**
**خو!**
**پوستړی شان فریاد دی**
**دا خړ کور چې مې برباد دی**
**دا چې اورم غلبلې دې**
**دا د اوښکو قافلې دې**
**دا چې سرې وینې بهېږي**
**دا چې کډې دې بارېږي**
**دا چې سترې شان تصویر دی**
**دا چې هر کس مې په ویر دی**
**دا چې خوندې مې بې کوره**
**په ژړا ژاړې سر توره**
**دا د کوم جرم سزا ده؟**
**بیا مو کړې څه ګناه ده؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو وړوکې شان مدعا ده**
**توقع مو بس یو ستا ده**
**چې موږ ستړي په قرار کړه**
**راپخلا بییر ته بهار کړه**
**دښمنان مو خوار او زار کړه**
**زموږ خړ وطن ګلزار کړه**
**زموږ ګران وطن سمسور کړه**
**زموږ بې کوره خلک پر کور کړه**
**بس یوالی رانصیب کړه**
**موږ و یو بل ته قریب کړه**
**نور له دې جنګونو ستړي**
**موږ له دې مرګونو ستړي**
**زموږ دغه سوال پوره کړه**
**موږ په سوله ښایسته کړه**
**ژوند مو سوله، بقا سوله**
**عزت سوله ،حیا سوله...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوه تحفه

پوهيږم نه چې يې دانه دانه کړم
که يې کړم هار وه خپلې غاړې لره
هغې سپوږمۍ رنګه حسينې نجلۍ
هغې نازکې نازنينې نجلۍ
راته يو دارنګه ډالۍ کړې ده
دا پيرزوينه ليونۍ کړې ده
چې يې ژوندون ته حوصله راکړې
هغې نجلۍ راله تحفه راکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پیوه عارضه

پیوه عارضه لرمه
درنه زما محبوبې
پوهېږم يې مجبوره
اې د وفا محبوبې

نور انتظار وخوړم
ستا د دیدن انتظار
بالا کولای نه شم
دغه وېرجن انتظار

راشه زموږ کلي ته
په لمبو تور سوی یم
د پېلتانه له لاسه
زه لکه سکور سوی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



منم تحفې دي راځي
خو زړه سکون نه لري
ستا د وصلت ټپاکچن
تاب د پېلتون نه لري

نه ماهيچن يم له تا
نه څه ګيله لرمه
راشه لږ حال مي وکه
دا عارضه لرمه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**